د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# او د هېوادوالو نظرونه

## ۱۴۰۴ لمریز کال

دوهم راپور



د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office

# د اقتصادي معاونیت فعالیتونه
# **او د هېوادوالو نظرونه**

**(د ۱۴۰۴ ل کال دوهم تحلیلي راپور)**

**ناشر:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل ـ افغانستان
0202107500
media@dpmea.gov.af
dpmea.gov.af

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک


افغانستان په ۱۳۰ برخو کې بشپړې او په ۱۰۰ برخو کې نیمه خودکفایي ته رسېدلی ............... ۱

د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پالیسي تایید شوه ............................................. ۹

د ایکو سازمان غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ګډون ............................. ۱۷

د ۵۰۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژې تفاهمنامه ... ....... ۲۶

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تولیدي فابریکو کمپلکس پرانیست ............................. ۳۵

بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان کارګرانو د لېږلو پروسه پیل شوه........................... ۴۳

لوګر کې د څلویښت میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې چارې پیل شوې ........................ ۵۱

د لس زره ټنه کلنې ظرفیت په درلودو سره د ممیزو د پروسس فابریکه پرانیستل شوه................. ۶۰

په افغانستان کې د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید ... ......... ۶۹

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال سره وکتل ........ ۷۷

د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پاشدان بند ګټې اخیستنې ته وسپارل شو ............... ۸۶

ملي تدارکاتو کمېسیون د ۸۲۸ میلیون افغانیو په لګښت شپږ پروژې منظورې کړې ................. ۹۵

# افغانستان په ۱۳۰ برخو کې بشپړې او په ۱۰۰ برخو کې نيمه خودکفايي ته رسېدلی



## سريزه

په افغانستان کې د اسلامي امارت له راتګ وروسته سرتاسري امنيت او ثبات ټينګ شوی، چې له امله يې په هېواد کې اقتصادي فعاليتونه پراخه شوي، صنعت پياوړی شوی او د بېکارۍ کچه راټيټه شوې ده.

اوسمهال په هېواد کې شاوخوا ٦۰۰۰ صنعتي فابريکې په رسمي ډول فعاليت کوي، چې له برکته يې افغانستان په ۱۳۰ برخو کې بشپړې او په ۱۰۰ برخو کې نيمه يي خودکفايي ته رسېدلی دی. دغه فابريکې ۵۷۰ ډوله توکي لکه اوړه، غوړ، مالګه، درمل، اوسپنه، سيمنټ، فولاد، کيمياوي او محصولاتي توکي او داسې نور توليدوي. په يادو فابريکو کې شاوخوا ۱۳۵ زره هېوادوال په مستقيم ډول په کار بوخت دي.


اسلامي امارت د صنعت د ودې په موخه صنعتکارانو ته بېلابېلې اسانتياوې برابرې کړې دي. د صنعتي ځمکو وېش، د خامو موادو برابرول، د وارداتي تعرفو راټيټول، د فابريکو د مصرفي موادو د قاچاق مخنيوی، د هغو توکو پر وارداتو تعرفې لوړول چې په کور دننه توليدېږي او د داخلي صنعت د معرفۍ او پياوړتيا په موخه په کور دننه او بهر کې د نندارتونونو جوړول د بېلګې په ډول يادولی شو.

## افغانستان په ۱۳۰ برخو کې بشپړې او په ۱۰۰ برخو کې نیمه خودکفایۍ ته د رسېدنې خبر موخه:

د اسلامي امارت له لاسته راوړنو د هېوادوالو خبرول او صنعتي فعالیتونو ته هڅونه.

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «افغانستان په ۱۳۰ برخو کې بشپړې او په ۱۰۰ برخو کې نیمه خودکفایۍ ته د رسېدنې» خبر يې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ




### د امارتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې افغانستان په ۱۳۰ برخو کې بشپړې او په ۱۰۰ برخو کې نیمه خودکفایۍ ته د رسېدنې خبر يې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ورځپاڼې





### ويب پاڼې





### اژانسونه





### وياندويان



## تویټرپاڼې





## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه




## ویب پاڼې




## خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## اماړتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

**رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: اماړتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:**

۱. افغانستان په ۱۳۰ برخو کې بشپړې او په ۱۰۰ برخو کې نیمه خودکفایۍ ته د رسېدنې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په اماړتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په اماړتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو،منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۸۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۵۴ مثبت دي. ۲۲ منفي نظرونه او ۱۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۳، منفي نظرونه ٪۴.۵ او سالم وړاندیزونه ٪۲.۵دي.

۲. افغانستان په ۱۳۰ برخو کې بشپړې او په ۱۰۰ برخو کې نیمه خودکفایی ته د رسېدنې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو، منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۴۷۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۰۵۰ مثبت، ۳۳۳ منفي او ۸۸ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۱٪، منفي نظرونه ۲۳ ٪ او سالم وړاندیزونه ٦ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۳ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۸ ده. مګر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۲۳ او ٦، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۴.۵ او ۲.۵سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۵۰۴ مثبت نظرونه، ۳۵۵ منفي نظرونه او ۹۹ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۷ ٪ مثبت نظرونه، ۱۸ ٪ منفي نظرونه او ۵٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، څکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- که یو سلنه هم خودکفایی ته ورسېږو، نو یوه لاسته راوړنه ده.
- نوره هڅه هم باید وشي چې سل سلنه خودکفایی ته ورسېږو. د بهرنیو محصولاتو مخه باید ونیول شي.
- خلک له بېکارۍ په تنګ شوي دي.
- د بېکارۍ له منځه تللو له پاره باید حکومت دندې ایجاد کړي، څو هېوادوال مو له بېکارۍ نجات ومومي.
- د برېښنامشکل که حل شي، نو سل سلنه خودکفایی ته رسېږو.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې ویلي، که هېواد مو یوه سلنه خودکفایی ته ورسېږي، نو هم یوه لاسته راوړنه ده. بلکل! د هېواد د خودکفایی په لور باید هر اخیستل شوی ګام وستایل شي. د هېوادونو خودکفایي په یو ځل

نه رامنځته کېږي، بلکې ډېر وخت ته اړتيا ده چې يو هېواد په ډېرو برخو کې خودکفايي ته ورسېږي. کوچني کوچني ګامونه دي چې يو هېواد لويو هيلو ته رسوي او اسلامي امارت هم له کوچنيو ګامونو پيل کړی چې ان شاءالله يو وخت به مو هېواد په ډېرو برخو کې د خودکفايي لويه هيله ترلاسه کړي. اسلامي امارت هڅه کوي، په هغو برخو کې د بهرنيو وارداتو مخه ونيسي، د کومو چې په هېواد کې د توليد ډېر ظرفيت موجود دی. سره له دې چې په ټولو برخو کې د يو هېواد خودکفا کېدل ډېر ستونزمن دي، خو افغانستان د دې ظرفيت لري چې په يو شمېر برخو کې خودکفا شي او نړۍ ته صادرات ولري. اوسمهال افغانستان په ځينو برخو کې خودکفا شوی او نورو هېوادونو ته صادرات لري. اوسپنه، غېر الکولي مشروبات، د چرګانو غوښه او يو شمېر نور توکي دي چې هېواد مو په کې خودکفايي ته رسېدلی او هڅه روانه ده چې افغانستان د يو وارداتي هېواد پر ځای په صادراتي هېواد باندې بدل شي. اسلامي امارت په صادراتي هېواد باندې د افغانستان بدلېدو ته ژمن دی او همدا لامل دی چې د صنعتکارانو ملاتړ کوي او اسانتياوې ورته برابروي. موږ وينو چې هېوادوال په دې تړاو د اسلامي امارت د هر کوچني ګام ملاتړ کوي او خوښي څرګندوي.

☜ **دويم:** يو شمېر هېوادوالو په خپل تبصرو کې ويلي چې خلک له بېکارۍ تنګ شوي. هېوادوالو د بېکارۍ د له منځه وړلو له پاره د دندو د ايجاد غوښتنه کړې ده. واقعيت دا دی چې په هېواد کې بېکاري يوه ستونزه ده. اسلامي امارت مني چې بېکاري شته او سترګې پرې نه پټوي، خو د بېکارۍ کچې کمولو له پاره هڅې هم کوي او په دې اړه يې لازم ګامونه اخيستي دي. موږ او تاسو ګورو چې په وروستيو کلونو کې په هېواد کې د صنعتي فعاليتونو په زياتېدا سره يو شمېر کاري فرصتونه ايجاد شوي، چې زرګونه هېوادوال په کې بوخت دي. په هېواد کې د کاري فرصتونو د ايجاد په موخه د خصوصي سکټور پانګونې ته زمينه برابره شوې ده او د دې له پاره چې په افغانستان کې خصوصي سکټور پانګونه وکړي، نو امنيت ټينګ شوی، د اسعارو ثبات ساتل شوی، د فساد مخه نيول شوې او شفافيت رامنځته شوی دی. سربېره پر دې، د بېکارۍ کچې کمولو او کاري فرصتونو د ايجاد له پاره په هېواد کې په مختلفو سکټورونو کې بېلابېلې پروژې پيل شوې دي، چې زرګونه هېوادوال په کې په کار بوخت دي. دې فعاليتونو نه يوازې د بېکارۍ کچه تر يوې کچې را کمه کړې، بلکې د هېواد اقتصادي ودې زياتولو کې يې مؤثر رول لوبولی دی. بېکاري په اسانه نه کمېږي، بلکې ډېر کار ته اړتيا لري او اسلامي امارت په هېواد کې د بېکارۍ کچې کمولو او کاري زمينو برابرولو ته ژمن دی.

☜ **درېيم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې ويلي، که په هېواد کې د برېښنا ستونزه حل شي، نو سل سلنه خودکفايي‌ته رسېدای شو. رېښتيا خبره دا ده چې برېښنا د يو هېواد اقتصادي ودې له پاره ډېره مهمه ده. د برېښنا له امله صنعتي فعاليتونو ته زمينه برابرېږي، چې د دې له امله په هېواد کې کاري فرصتونه ايجادېږي. يعنی برېښنا او صنعتي پرمختګ او اقتصادي وده سره تړلي دي. له بده مرغه، اوس په افغانستان کې د برېښنا کچه کمه ده. يو څه اندازه برېښنا د هېواد داخل کې توليدېږي، چې هغه کفايت نه کوي. همدا لامل دی چې د کورني توليدي برېښنا د

کمښت له امله وارداتي برېښنا ته اړ يوو. خو اسلامي امارت چې د هېواد د هر اړخيز پرمختګ له پاره قوي هوډ لري، د برېښنا د کمښت ستونزه يې هم په نظر کې نيولې ده. لکه څرنګه چې د صنعتي پرمختګ او اقتصادي ودې له پاره برېښنا ضروري ده، اسلامي امارت هڅه کوي چې له کورنيو سرچينو څخه د برېښنا د توليد په موخه استفاده وکړي. په دې وروستيو کې د لمريزې او بادي برېښنا او تر څنګ يې د اوبيزې برېښنا د توليد يو شمېر پروژې پرانيستل شوې دي، چې په بشپړېدو سره به يې په هېواد کې د برېښنا کچه زياته شي. له دې امله به اقتصادي فعاليتونه زيات او د خودکفايۍ کچه به لوړه شي.

## پايله

اسلامي امارت د هېواد خودکفايۍ ته ژمن دی او ټوله هڅه کوي چې هېواد د اقتصادي ودې او اقتصادي خپلواکۍ په لور رهي کړي. تر اوسه په دې تړاو ځينې کوټلي ګامونه اخيستل شوي دي. د برېښنا د يو شمېر پروژو پېل، صنعتکارانو ته د امتيازاتو ورکړه، له هېوادونو سره سوداګريزو اړيکو ته پراختيا او يو شمېر نور ګامونه ښيي چې اسلامي امارت په دې تړاو جدي دی.

د هېوادوالو د نظرونو له مطالعې ښکاري چې هغوی راتلونکي ته هيله من دي او تمه لري چې نږدې راتلونکي کې به د اسلامي امارت د هلو ځلو په پايله کې هېواد په ډېرو برخو کې خودکفايۍ ته ورسېږي. په ټوله کې هېوادوال د اسلامي امارت له لوري د افغانستان د خودکفايۍ په لور د هرې هڅې ملاتړ کوي.

# د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پاليسي تاييد شوه



## سريزه

په يو هېواد کې د اقتصادي ودې او پراختيا له پاره اړينه ده چې يوه روښانه او هر اړخيزه اقتصادي پاليسي موجوده وي. افغانستان چې له څو لسيزو جګړو راوتلی، داسې پاليسيو ته اړتيا لري چې هم د اسلامي ارزښتونو په نظر کې نيولو سره د هېواد واقعي اړتياوو ته ځواب ووايي او هم يې پر بنسټ په هېواد کې اقتصادي وده او پراختيا رامنځته شي. د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت د اقتصادي کمېسيون له لوري همدا ډول يوه پاليسي تاييد شوه، چې په کې په هېواد کې د اقتصادي فعاليتونو د همغږي کولو او د سرچينو د اغېزناکه کارولو په تړاو روښانه لارښوونې راغلې دي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د ۱۴۰۴ کال د سرطان مياشتې په لومړۍ نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. غونډې ته د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پاليسي د بحث له پاره وړاندې شوه چې له هر اړخيزې ارزونې وروسته تاييد شوه. د يادې پاليسۍ ليدلوری (پر اسلامي اقتصادي نظام ولاړ پرمختللی او سوکاله افغانستان) او موخې يې (د پانګونې د جذب او پراختيا لپاره د مناسب چاپېريال رامنځته کول؛ د کورنيو توليداتو او صادراتو زياتول؛ د اشتغال کچې لوړول او د بې‌وزلۍ کمول؛ پايداره اقتصادي پراختيا او وده؛ د اقتصادي ثبات، سوکالۍ او اسلامي ټولنيز عدالت ټينګښت) دي. اقتصادي پاليسي به د هېواد د

اقتصادي فعاليتونو په همغږي کولو، له منابعو څخه د غوره ګټې اخيستنې او د خصوصي سکټور د ملاتړ په برخه کې مهم رول ولري. همداراز په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د بغلان ولايت د مرکز پلخمري اړوند ۱۳ کليو ته د برېښنا شبکې غځولو پروژې پاتې چارې دې د برېښنا شرکت له داخلي بوديجې تمويل او بشپړې شي.


د غونډې په پای کې په بلخ ولايت کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه تاييد شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د اته پوړيز سوداګريز مارکېټ جوړولو له پاره ۷۴۰ ميليونه افغانۍ پانګونه کوي چې ټولټال به ۸۷۸ دوکانونه ولري. همدارنګه په سرپل ولايت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه هم تاييد شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د معياري سوداګريز مارکېټ جوړولو له پاره ۹٦ ميليون افغانۍ پانګونه کوي. پورته تصاميم د منظورۍ په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب دفتر ته واستول شول.

## د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پاليسۍ د تاييد موخه:

د اقتصادي فعاليتونو همغږي او د هېواد اقتصادي وده

**په هغو رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پاليسۍ تاييد» خبر يې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### يادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پالیسۍ تایید خبر يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

### الف: امارتي رسنۍ


#### تلويزيونونه





#### راډيوګانې





#### ورځپاڼې





#### ويب پاڼې




## توېترپاڼې





## وياندويان




## اژانسونه





## په امارتي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلويزيونونه





## راډيوګانې




## اژانسونه





## ورځپاڼې




## په خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو شېرنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پالیسۍ د تایید خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شېرنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵٦۱ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۳۸ مثبت دي. ۱۵ منفي نظرونه او ۸ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۹٦، منفي نظرونه ۳٪ او سالم وړاندیزونه ۱٪دي.

۲. د افغانستان اسلامي امارت اقتصادي پالیسۍ د تایید خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو شېرنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۷۴ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۵٦ مثبت، ۱۲ منفي او ٦ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۹۰٪، منفي نظرونه ۷٪ او سالم وړاندیزونه ۳ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹٦ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۹۰ ده. مګر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۷ او ۳، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۳ او ۱ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ٦۹۴ مثبت نظرونه، ۲۷ منفي نظرونه او ۱۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې۹۴ ٪ مثبت نظرونه، ۴ ٪ منفي نظرونه او ۲٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- د یوه هېواد د اقتصادي نظام ښه والی د هغه هېواد په اقتصادي پالیسۍ پورې تړلی دی.
- د دوامداره اقتصادي ودې په موخه باید هر اړخیزه اقتصادي تګلارې شتون ولري.
- ګرمي ډېره ده، د برق ستونزه دې حل شي.
- له هر څه وړاندې د برق غمه وخورئ، برق ډېرې ستونزې حل کولی شي.

- ببکاري ډېره ده، د ببکارۍ د ختمولو له پاره برنامې جوړې کړئ، څو هېوادوالو ته کاري فرصتونه ایجاد او اقتصادي ستونزې حل شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ویلي چې د یو هېواد د اقتصادي نظام ښه والی د هغه هېواد په اقتصادي پالیسۍ پورې تړلی دی. بلکل! واقعیت دا دی چې که چېرې یو هېواد ښه او مؤثره اقتصادي پالیسي ولري، نو د هغه هېواد ټولې اقتصادي چارې به منظمې او همغږې وي. د افغانستان اسلامي امارت همدې اصل ته په کتو او په هېواد کې د اقتصادي چارو د لا ښې همغږۍ په موخه اقتصادي پالیسي جوړه کړه. دا اقتصادي پالیسي به د هېواد د اقتصادي چارو د بهبود او پرمختګونو لامل شي. کاري فرصتونه به ایجاد کړي او د هېواد اقتصادي څرخ حرکت به لا ورسره ګړندی شي. دغه اقتصادي پالیسي هر اړخیزه ده او د نظام ټول اړخونه یې رانغاړلي دي، چې په پلي کولو سره به یې د خدای تعالی په فضل افغانستان د اقتصادي ثبات او ښېرازۍ په لور ګړندي ګامونه واخلي او هېواد به مو پرمختګ وکړي.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د برېښنا د نه شتون ستونزې ته اشاره کړې ده. هغوی په اوړي کې د کافي برېښنا نه شتون یوه ستونزه بللې او ویلي یې دي چې برېښنا ډېرې ستونزې حل کولی شي. رېښتیا هم د اوړي په موسم کې برېښنا ته ډېره اړتیا وي او په ګرمو سیمو کې خلک له ستونزو سره مخ وي. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د برېښنا د تولید کچه له کورنیو سرچینو څخه په استفادې زیاته کړي. د لمریزې، بادي او اوبو برېښنا یو شمېر پروژې تر کار لاندې دي چې په بشپړېدو سره به یې په هېواد کې د برېښنا کچه تر یوه حده زیاته شي او په اوړي کې به د هېوادوالو د برېښنا ستونزې سربېره صنعتي فابریکو ته هم برېښنا زیاته شي، چې دا به د هېواد د اقتصادي ودې لامل وګرځي. اسلامي امارت هڅه کوي په تدریجي ډول پر وارداتي برېښنا اتکا راکمه کړي، خو دا کارونه لږ وخت ته اړتیا لري او د برېښنا تولید او توزیع په ډېرې چټکۍ او لنډ وخت کې نه کېږي. په دې اساس هېوادوال باید حوصله ولري او اسلامي امارت ته وخت ورکړي، څو د پلانونو مطابق مخکې لاړ شي او د برېښنا د تولید هغه پروژې چې پېل شوې، تر بشپړېدو یې انتظار وکړي. کله چې د برېښنا روانې پروژې بشپړې شي، نو بیا به د الله تعالی په فضل په هېواد کې د برېښنا کچه زیاته او هېوادوال به مو هوسا شي.

☜ **درېیم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو خبرو کې په هېواد کې د بېکارۍ له موجودیت څخه شکایت کړی او د بېکارۍ ختمولو او کاري فرصتونو د ایجاد له پاره یې د برنامو غوښتنه کړې ده. په هېواد کې بېکاري شته. اسلامي امارت مني چې په هېواد کې بېکاري یوه ستونزه ده، خو اسلامي امارت غلی نه دی ناست ، بلکې د دې ستونزې د حل له پاره

له تېرو څلورو کلونو راهیسې هڅې کوي او مختلفې برنامې یې عملي کړې او ځینې په پلان کې نیول شوې دي. اوسمهال په مخلتفو سکټورونو کې په مختلفو پروژو کې زرګونو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شوې او هڅه کېږي چې دغه کچه لوړه او په هېواد کې د بېکارۍ کچه راکمه شي.

## پایله

په هېواد کې د اقتصادي چارو د لا ښې همغږۍ او مدیریت له پاره ضروري وه چې یوه پالیسي جوړه شي. اقتصادي معاونیت دغه هڅه وکړه او اقتصادي پالیسي یې جوړه کړه. د دې پالیسي په تطبیق سره به د هېواد له سرچینو څخه ښه استفاده وشي او اقتصادي نظام به د ښه والي په لور لاړ شي.

ځینو هېوادوالو د برېښنا له کموالي شکایت کړی او د کاري فرصتونو د ایجاد غوښتنه یې کړې، چې اسلامي امارت دغو ستونزو ته متوجه دی او د حل له پاره یې خپلې هڅې کوي. په وروستیو کلونو کې د کورني او بهرنۍ پانګونې د جذب له لارې د برېښنا په سکټور کې پروژې پېل شوې دي، چې تر یوې کچې به د برېښنا ستونزه ورسره حل شي. دې پروژو کې ګڼو هېوادوالو ته کاري فرصتونه ایجاد شوي او هڅه کېږي چې لا ډېر کاري فرصتونه ایجاد او د بېکارۍ کچه راکمه شي.

# د ایکو سازمان غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ګډون




## سریزه

د اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو) ۱۷مه غونډه د اذربایجان جمهوریت په خنکندي ښار کې د جولای میاشتې له ۳-۴ پورې جوړه شوې وه. د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د یاد سازمان غونډه کې د ګډون له پاره اذربایجان جمهوریت ته سفر کړی و.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د غونډې پر مهال له یو شمېر ولسمشرانو، د ولسمشرانو له مرستیالانو، وزیرانو او نورو مسوولینو سره لیدنې وکړې او د افغانستان د اقتصادي فرصتونو، سیمه ییز اتصال او پانګونې پر موضوعاتو یې خبرې وکړې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو خبرو کې د لاجوردو لارې د فعالېدو غوښتنه وکړه. دا لاره افغانستان له اروپا سره نښلوي او د سوداګرۍ لپاره مهمه سیمه ییزه پروژه بلل کېږي. اقتصادي مرستیال د ایکو سازمان غړو هېوادونو ته بلنه ورکړه چې په افغانستان کې د انرژۍ، کرنې، کانونو، صنعت او زیربنا په برخو کې پانګونه وکړي او خپلې تجربې له افغانستان سره شریکې کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان غونډې له غړو غوښتنه وکړه چې د روسيې په پله پل کېږدي او د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژني. دغه راز، اقتصادي مرستیال غوښتنه وکړه چې د ایکو سازمان راتلونکې غونډه دې په کابل کې جوړه شي.


دغه راز، د یاد رسمي سفر په پای کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د باکو له نړیوال بحري بندر څخه هم لیدنه وکړه او د ترانزیټي همکاریو پر پیاوړتیا او پراختیا یې ټینګار وکړ.

## د ایکو سازمان غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ګډون د خبر موخه:

د اقتصادي همکاریو پراختیا او پانګونې جلب

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د ایکو سازمان غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ګډون» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو اماراتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د ایکو سازمان غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ګډون خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په اماراتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

### الف: اماراتي رسنۍ


#### تلویزیونونه





#### راډیوګانې





#### ورځپاڼې





#### اژانسونه




## ویب پاڼې





## تویټرپاڼې




## ویاندویان





## په اماراتي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزوني ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې



## ورځپاڼې





## اژانسونه





## ویب پاڼې




## خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. د ایکو سازمان غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ګډون خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۴۸۶ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۲۳۵ مثبت دي. ۲۰۰ منفي نظرونه او ۵۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۳، منفي نظرونه ٦٪ او سالم وړاندیزونه ۲٪دي.

۲. د ایکو سازمان غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د ګډون خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو  د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۸۴۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۵۲۸ مثبت، ۱۰۵۰ منفي او ۲۷۱ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۳٪، منفي نظرونه ۲۲ ٪ او سالم وړاندیزونه ۵ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۳ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۳ ده. مګر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره  ۲۲ او ۵، خو په امارتي رسنیو کې بیا ٦او ۲سلنه ده.  که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ٦۷٦۳ مثبت نظرونه، ۱۲۵۰ منفي نظرونه او ۳۲۲ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۱ ٪ مثبت نظرونه، ۱۵ ٪ منفي نظرونه او  ۴٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته مورږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- دا سفر د افغانستان د نړیوال اقتصادي حیثیت د بېرته احیا او د سیمې له هېوادونو سره د رغنده همکاریو د پراخېدو له پاره یو مهم ګام دی.د ایکو سرمشریزه کې ګډون به نه یوازې د افغانستان د اقتصادي فرصتونو تمثیل وکړي، بلکې

د نړیوال تعامل له پاره به مثبت پیغام هم له ځان سره ولري. دا ډول حضورونه د مشروعیت، پرمختګ او سیاسي ثبات په لور ارزښتناک حرکتونه دي.

- محترم ملا عبدالغني برادر اخوند! ستاسو هڅې د ستاینې وړ دي، خدای دې وکړي چې له لویې لاسته راوړنې سره هېواد ته راشئ.

- د رئیس الوزرا د اقتصادي مرستیال دا غوښتنه یو مهم او ملي ګام دی. د ایکو له غړو هېوادونو د رسمیت غوښتنه نه یوازې د افغانستان د اقتصادي اړیکو پراخېدو ته زمینه برابروي، بلکې د داخلي ثبات، پانګونې، سوداګرۍ او د خلکو د ژوند د ښه والي له پاره هم بنسټیز ارزښت لري. دا ډول غوښتنې باید له متقابل احترام، اعتماد جوړونې او واضحو همکاریو سره یو ځای شي، ترڅو د نړیوالو باور ترلاسه شي او د افغانانو د اساسي حقونو ساتنه یقیني شي.

- د روسیې فدراسیون له لوري د اسلامي امارت سرپرست حکومت په رسمیت پېژندل یو مهم او تاریخي ګام دی، چې د افغانستان او روسیې تر منځ اړیکو ته نوې مرحله پرانیزي. دا پرېکړه ښیي چې سیمه‌ییز تعامل بدلېدونکی دی.

- فقط وعدې کیږي، خو عملي ګامونه ترا وسه نه دي اخیستل شوي. په وعدو خلکو او هیواد ته ګټه نه شي رسېدلای. پکار داده چه خبرې په عمل کې پلې شي. هیواد او خلکو ته خیر ورسي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** اکثریت هېوادوالو په خپلو تبصرو کې په اقتصادي همکاریو (ایکو) سازمان کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ګډون مثبت ګام ګڼلی او هغه یې د افغانستان له پاره ښه ارزولی دی. ایکو سازمان کې د اسلامي امارت ګډون د افغانستان د اقتصادي همکاریو د پراختیا له پاره مهم و. د سیمې یو شمېر پیاوړي اقتصادي هېوادونه د یاد سازمان غړیتوب لري، چې د افغانستان نږدې کېدل ورته د هېواد د اقتصاد له پاره مهم دي. د بېلګې په ډول، د لاجوردو لاره، د ټاپي پروژه، د کاسا زر پروژه او ځینې نورې هغه پروژې دي په پلي کېدو سره یې د ایکو سازمان له غړو سره د تعامل او نږدې والي له لارې د افغانستان اقتصاد ته ګټه رسېږي، کاري فرصتونه ایجادوي او د اسلامي امارت اړیکې له یادو هېوادونو سره نږدې کوي. دغه سفر له لاسته راوړنو ډک و او موږ یې عملاً شاهدان و چې د یاد سفر له پای ته رسېدو سره سم د قزاقستان له لوري د اوسپنې پټلۍ پروژه کې د ۵۰۰ میلیون ډالرو پانګونه اعلان شوه. په دې سفر کې داسې ژمنې او د همکاریو وعدې وشوې چې په عملي کېدو سره به یې افغانستان کې اقتصادي خوځښت رامنځته شي.

☜ **دويم:** ګڼ شمېر هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د روسيې له لوري د اسلامي امارت رسميت پېژندنه مثبت ګام بللی دی. واقعاً، د روسيې له لوري د اسلامي امارت رسميت پېژندنه به د افغانستان له پاره سياسي او اقتصادي ګټې ولري. دا رسميت پېژندنه داسې مهال ترسره شوه چې د اسلامي امارت پلاوی د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په ايکو سازمان کې د ګډون له پاره د اذربايجان پلازمېنه باکو کې و. اقتصادي مرستيال له نورو هېوادونو هم د رسميت پېژندنې غوښتنه وکړه. د هېوادونو له لوري د اسلامي امارت رسميت پېژندنه به له نورو هېوادونو سره د افغانستان سياسي او اقتصادي اړيکې پراخه کړي، سوداګرۍ او لا ډېرې پانګونې ته به زمينه برابره کړي او په سيمه ييز او نړيوال سياست کې به د افغانستان حيثيت او موقف لا ډېر پياوړی کړي. د روسيې له لوري د اسلامي امارت رسميت پېژندنه د اسلامي امارت د اقتصاد محوره، نه مداخلې او د هېواد په داخل کې د سياسي ثبات ساتلو له امله ده او دا پاليسي به نور هېوادونه هم اړ کړي چې اسلامي امارت په رسميت وپېژني.

☜ **دريېم:** ځينو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې نيوکه کړې چې اسلامي امارت وعدې کوي، خو عملي ګامونه نه اخيستل کېږي. که وګورو اسلامي امارت له ولس سره په خپلو وعدو وفا کړې ده. که يوازې اقتصادي برخه وګورو، نو په اقتصادي برخه کې شوې ژمنې عملي شوې دي. د اقتصادي ځان بسياينې په لور مهم ګامونه اخيستل شوي دي. اوسمهال افغانستان په ۱۳۰ برخو کې ځان بسياينې ته رسېدلی دی او هڅه کېږي چې دا برخې زياتې شي. سربېره پر دې، د هېواد په داخل کې د اقتصادي ښېرازۍ او ودې له پاره ګڼې ملي پروژې پېل شوې دي. د قوش تېپې کانال لويه پروژه، د برېښنا د توليد پروژې، د داخلي اتصال او سوداګرۍ د پياوړتيا په موخه د سړکونو جوړول او نورې پراختيايي پروژې يې ځو بېلګې دي چې اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي ودې په موخه پېل کړې دي. د پانګونې د جلب او جذب له پاره هڅې شوې او په مختلفو سکتورونو کې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه شوې ده. د دې تر څنګ، د سيمه ييز اتصال له پاره هڅې شوې دي. د تاپي پروژه، د اوسپنې پټلۍ او نورې ګڼې پروژې دي چې اسلامي امارت يې د خپل اقتصاد محوره سياست له مخې پلې کوي. ممکن په ځينو برخو کې به ستونزې هم وي. اسلامي امارت په ستونزو سترګې نه پټوي، ولې د ستونزو د حل له پاره هڅې شوې او نورې هڅې به هم کېږي، څو هېواد له ستونزو خلاص او هېوادوال مو هوسا او نېکمرغه ژوند ولري.

## پایله

نړۍ د یوه کلي حېثیت لري او له نورو هېوادونو سره تعامل او اړیکې ټینګول د وخت ضرورت دی. اسلامي امارت غواړي چې له سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره مثبت او اقتصاد محوره تعامل وکړي، څکه دا د افغانستان د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو او مثبت لور ته رهي کېدو له پاره ډېر ضروري دی.

په ایکو سازمان کې د افغانستان اسلامي امارت ګډون او د اقتصادي همکاریو او سیمه ییز اتصال په اړه یې روښانه دریځ دا ثابتوي چې اسلامي امارت د سیمې له هېوادونو سره مثبت تعامل ته چمتو دی او له دې لارې غواړي چې سیمه ییز اتصال ټینګ او افغانستان په کې مرکزي رول ولوبوي.

اسلامي امارت هېوادوالو ته ډاډ ورکوي، چې شوې ژمنې به پلې کوي. ممکن په ځینو ځایونو کې به ستونزې وي، خو دا په دې معنی نه ده، چې اسلامي امارت خپلو مسوولیتونو ته متوجه نه دی. اسلامي امارت د ولس د خادم په توګه په هره برخه کې د هېوادوالو د هوساینې له پاره کار کوي.

# د ۵۰۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ - هرات اوسپنې پټلۍ پروژې تفاهمنامه لاسلیک شوه



## سریزه

د افغانستان اسلامي امارت هوډ کړی چې د افغانستان سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي او د سیمې له نږدې او لرې ګاونډیو هېوادونو سره یې ونښلوي. افغانستان اوبو ته لاره نه لري، نو ځمکني ترانسپورټ ته پراختیا ورکول د دې له پاره یوازینۍ لاره ګڼل کېږي. د اوسپنې پټلۍ د ځمکني ترانسپورټ اسانه، چټکه او ارزانه لار ده. همدا لامل دی چې اسلامي امارت د اوسپنې پټلۍ شبکې پراختیا ته توجه کوي، څو د افغانستان د صادراتو او وادراتو کچه لوړه او ارزانه او چټکه شي. په همدې تړاو په ارګ کې له قزاقستان سره د تورغونډۍ-هرات اوسپنې پټلۍ پروژې تفاهمنامه لاسلیک شوه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د سرطان میاشتې په ۱۹مه نېټه په ارګ کې د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر مرات نورتلیف سره وکتل. د لیدنې پرمهال دواړو لورو د سوداګرۍ، ترانزیټ، اوسپنې پټلۍ، بانکي او اقتصادي همکاریو په اړه خبرې وکړې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او قزاقستان اړیکې مثبتې او د پرمختګ په حال کې وبللې او ویې ویل، اسلامي امارت له قزاقستان سره د هغو همکاریو د پراخېدو لپاره کار کوي چې د افغانستان د سوکالۍ او پرمختګ لامل ګرځي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال قزاقي لورې ته ډاډ ورکړ چې افغانستان کولای شي د یوه مؤثر ترانزیټي دهلیز په توګه، قزاقستان ته دا زمینه برابره کړي چې خپله انرژي د

افغانستان له لارې جنوبي اسیا ته ولېږدوي. محترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو ترمنځ له موجودو فرصتونو د ښې استفادې په اړه وویل، دواړه لوري کولی شي د کانونو، ترانسپورټ، مخابراتو، انرژۍ تولید، نفت او ګاز او بنسټیزو پروژو په برخه کې ګډ کار وکړي.

د دې لیدنې پرمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنیزو توکو د حفظ او قرنطین د موافقتنامې پر لاسلیک کېدو، د اوسپنې پټلۍ له لارې د صادراتو او وارداتو پر زیاتوالي، د دواړو هېوادونو ترمنځ د نړیوال حمل او نقل او ترانسپورټ په اړه د موافقتنامې پر لاسلیک کېدو، د افغانستان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان ترمنځ په صنعتي، سوداګریز او ترانسپورټي ډګر کې پر مشترکې همکارۍ، په دواړو هېوادونو کې د لویو سوداګریزو مرکزونو پرانیستلو او د ترانزیټي فیسونو پر کموالي بحث وشو، چې په تطبیق سره به یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه درې میلیارد ډالرو ته ورسېږي.

ورپسې د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي مرات نورتلیف خبرې وکړې. هغه ووېل، دوی په نړیوال سټیج له افغانستان څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکوي او وینې چې د افغانستان او قزاقستان ترمنځ په مختلفو برخو کې د ګډو همکاریو او نږدې کار کولو لپاره ښه زمینه برابره شوې ده. نوموړي زیاته کړه، قزاقستان چمتو دی چې د هرات – تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې عملاً د ۵۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت پانګونه پیل کړي. هغه افغانستان ته د برېښنا وارداتو د زیاتوالي، د قزاقستان بازارونو ته د افغانستان د کرنیزو محصولاتو انتقال او د قزاقستان په ازادي او زمان بانکونو کې د افغاني بانکونو د حسابونو پرانیستلو ته له خپل لوري چمتووالی څرګند کړ.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هرات – تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې د قزاقستان له پانګونې هرکلی وکړ او دا یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترانزیټ او سوداګرۍ کچې زیاتېدو لپاره مهم ګام یاد کړ.


په پای کې د دواړو لورو ترمنځ د هرات – تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې د قزاقستان له لوري د ۵۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت د پانګونې د پیل په موخه تفاهمنامه  لاسلیک شوه.

## د ۵۰۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژې د تفاهمنامې د لاسلیک موخه:

د سیمه ییز اتصال پراختیا او د افغانستان د سوداګرۍ وده

په هغو رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې « د ۵۰۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژې د تفاهمنامې د لاسلیک » خبر یې خپور کړی دی:

## الف: امارتي رسنۍ




## ب: خصوصي رسنۍ




## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





## یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د ۵۰۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژې د تفاهمنامې د لاسلیک خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه





### وياندويان





### ټويټرپاڼې



## ویب پاڼې





## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنی


## تلویزیونونه




## راډیوګانې





## ورځپاڼې





## ویب پاڼې




## اژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د ياد خبر په اړه په رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. د ۵۰۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژې د تفاهمنامې د لاسلیک خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۶۲۶ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۸۷ مثبت دي. ۲۳ منفي نظرونه او ۱۶ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴٪، منفي نظرونه ۳.۶٪ او سالم وړاندیزونه ۲.۴٪دي.

۲. د ۵۰۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژې د تفاهمنامې د لاسلیک خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۷۱۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۹۵ مثبت، ۸۱ منفي او ۳۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۳٪، منفي نظرونه ۱۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۶ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۳ ده. مګر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۱۱ او ۶، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۳.۶ او ۲.۴ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۱۸۲ مثبت نظرونه، ۱۰۴ منفي نظرونه او ۵۳ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۸ ٪ مثبت نظرونه، ۸ ٪ منفي نظرونه او ۴٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته مورږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- حکومت دې کوشش وکړي چې د منځنۍ اسیا له هېوادونو په ځانګړي ډول له قزاقستان او ازبیکستان سره سیاسي او اقتصادي اړیکې پیاوړې کړي او د کرنې په مکانیزه کولو، د حیرتان-هرات اوسپنې پټلۍ غځولو، له تورغونډۍ څخه تر کندهار پورې اوسپنې پټلۍ په تړاو دې د هغوی له تجربو او ظرفیت څخه استفاده وکړي.

- د افغانستان د اړيکو پراختيا د افغانستان د خلکو د خوشالۍ لامل کېږي.
- نړيوال او د سيمې هېوادونه پوهېږي چې په افغانستان کې پانګونې ته هر اړخيزه زمينه برابره شوې ده او دغه پروژې به وکړای شي چې د هېواد موجوده اقتصادي ستونزې تر يوه حده کمې کړي.
- دا د هېواد له پاره بهترين پرمختګ دی او کولی شي چې زرګونو ځوانانو ته کار پيدا کړي.
- له اسلامي امارت څخه مو هيله ده چې د ترانزيت او تجارت بديلې لارې پيداکړي، څو د ځينو هېوادونو له تکيې خلاص شو.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې ويلي چې حکومت دې د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره اړيکې پراخه او پياوړې کړي. د افغانستان اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته د اقتصاد محوره او متوازن بهرني سياست پاليسي تعقيب کړې ده او همدا لامل دی چې له ټولو هېوادونو سره مثبتې او دوامداره سياسي او اقتصادي اړيکې جوړوي. له منځنۍ اسيا سره د افغانستان د اړيکو پراختيا د افغانستان د اقتصادي پرمختګ له پاره مهمې دي. وروستيو کلونو کې د يادې سيمې له هېوادونو سره د افغانستان اړيکې ډېرې نږدې شوې دي. د منځنۍ اسيا هېوادونه کولی شي چې اروپا او چين سره د افغانستان سوداګريزې اړيکې لا پراخه کړي. اسلامي امارت غواړي چې د لاجوردو لاره بيا فعاله شي او له دې لارې افغانستان وکولی شي چې خپل صادرات او واردات په چټک او ارزانه ډول ترسره کړي. اسلامي امارت غواړي چې د منځنۍ اسيا هېوادونه په افغانستان کې پانګونه وکړي. د پانګونې د جذب ډېرې هڅې هم شوې دي. د تاپي پروژه، د اوسپنې پټلۍ پروژې او يو شمېر نورې پروژې تر کار لاندې دي، څو سيمه ييز اتصال پياوړی شي. دا د دې ثبوت دی چې افغانستان له منځنۍ اسيا سره ښې او دوستانه اړيکې غواړي او مهمې يې ګڼي.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ويلي چې نړۍ او د سيمې هېوادونه پوهېږي چې په افغانستان کې د پانګونې له پاره زمينه برابره شوې او مختلفې پروژې به د هېواد اقتصادي ستونزې تر يوې کچې حل کړي. بلکل! د اسلامي امارت له راتګ وروسته ځينو هېوادونو يو شمېر تشويشونه درلودل، خو هغه تشويشونه له منځه لاړل او د افغانستان اسلامي امارت سره يې اړيکې پيل او پراخه کړې. هغو هېوادونو او بهرنيو خصوصي پانګوالو په افغانستان کې په بېلابېلو سکټورونو کې پانګونه وکړه. بهرنيو پانګوالو ته د اسلامي امارت ډاډ او ملاتړ د دې لامل شوی چې هغوی پانګونې ته مخه کړي. دغه راز، اسلامي امارت په ټول هېواد کې سرتاسري ثبات ساتلی دی چې دا هم بهرنۍ پانګونې

د زياتېدو او د هېواد د اقتصادي پرمختګ لامل ګرځېدلی دی. د مختلفو پروژو پېل او اقتصادي خوځښت په هېواد کې د ډېرو کاري فرصتونو د ايجاد لامل شوی، چې زرګونه هېوادوال په کې بوخت دي.

☜ **درېيم:** ځينو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ويلي چې اسلامي امارت دې د ترانزيټ او سوداګرۍ بديلي لارې پيدا کړي. اسلامي امارت هڅه کوي چې يوازې په ځېنو هېوادونو متکي نه شي او د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د ترانزيټ او سوداګرۍ نورې بديلي لارې ومومي. د لاجوردو لاره او د ايران چابهار بندر د افغانستان د سوداګرۍ له پاره ښې بديلې لارې دي. دغه راز، د اوسپنې پټلۍ هم د افغانستان د ترانزيټ او سوداګرۍ له پاره ښه زمينه برابروي. اسلامي امارت له يو شمير هېوادونو سره په خبرو بوخت دی، چې څه ډول بديلو سوداګريزو لارو ته پراختيا ورکړي، څو د هېواد د اقتصادي ودې لامل شي او افغانستان وکولی شي چې لرې او نږدې هېوادونو ته خپل توکي صادر او له هغې خوا واردات ولري.

## پايله:

د هېوادوالو له نظرو جوتېږي چې هغوی د اسلامي امارت له هڅو ملاتړ کوي او غواړي چې اسلامي امارت خپلو هڅو ته دوام ورکړي، څو له يوې خوا د افغانستان سياسي اړيکې پراخه شي او له بلې خوا د هېواد د اقتصادي ودې لامل وګرځي.

سياسي اړيکې په اقتصادي اړيکو ډېر تاثير لري. همدا لامل دی چې اسلامي امارت له ټولو هېوادونو سره د اقتصاد محوره، بې طرفه او متوازن بهرني سياست پر اساس اړيکې ټينګوي، ځکه افغانستان اشغال ځپلی او له جګړې وروسته بيارغونې ته ډېره اړتيا لري.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تولیدي فابریکو کمپلکس پرانیست



## سریزه

صنعت د یو هېواد د اقتصادي ودې له پاره اساس دی. که صنعت نه وي، نو هېواد د نړۍ له هېوادونو سره سیالي نه شي کولی، کاري فرصتونه به کم وي او د هېواد له سرچینو څخه به سمه استفاده نه شي کېدلی. د افغانستان اسلامي امارت همدې اړتیاوو ته په کتو هڅه کوي چې افغانستان په صنعتي هېواد باندې بدل کړي. وروستیو کلونو کې د هېواد د صنعتي کېدو په پار مهم ګامونه اخیستل شوي، څو د هېواد اقتصاد له مصرفي اقتصاد څخه د تولیدي اقتصاد په لور مزل وکړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ کال د سرطان میاشتې په ۳۰مه نېټه په ملي پراختیا شرکت کې د څو تولیدي فابریکو کمپلکس پرانیستل شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د تولیدي فابریکو د دغه کمپلکس بیا فعالول د داخلي تولیداتو او صنایعو د ودې او پراختیا په برخه کې بنسټیز ګام وباله او زیاته یې کړه، چې په دې سره به پر بهرنیو تولیداتو د افغانستان تکیه راکمه او د کورني صنعت په پیاوړتیا او پراختیا کې به د پام وړ مرسته وکړي.

محترم ملا صاحب وویل، د تولیدي فابریکو دغه کمپلکس کې به ډېرو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي، د سیمه ییزو او بهرنیو بازارونو په نسبت به هېوادوالو ته په ارزانه بیه تولیدات وړاندې شي او په لویه کې به دغه کمپلکس د هېواد د ملي اقتصاد په تقویه کې مؤثر رول ولوبوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند یوځل بیا پر ټولو پانګوالو او تجارانو غږ وکړ چې راشي او په افغانستان کې پانګونه وکړي. د هغه په خبره، اوسمهال په افغانستان کې د هر ډول لویو، متوسطو او کوچنیو پانګونو لپاره ښه زمینه برابره شوې ده. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ملي پراختیا شرکت له مسوولینو مننه وکړه چې دغه تولیدي فابریکې یې له ٦٠ کلن ځنډ وروسته بیا فعالې کړې او له هغوی یې په ټینګار وغوښتل چې هېوادوالو ته باکیفیته تولیدات وړاندې کړي.


د یادونې وړ ده چې د تولیدي فابریکو دغه کمپلکس اوسمهال د قوش تېپې کرنیزو کمپلکسونو لپاره د ماشین آلاتو او کرنیزو وسایلو، د صنعتي او کوچنیو فابریکو ماشین الاتو، ترانسپورټي وسایطو، فلزي عناصرو، برقي وسایلو، مختلفو پرزه جاتو او د کانالونو او اوبو بندونو د دروازو د قطعاتو په شمول ۱۰۵ ډوله تولیدات کوي، چې یوشمېر تولیدات یې ننداریې ته هم وړاندې شول.

## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د تولیدي فابریکو د کمپلکس پرانیستې موخه:

د ملي اقتصاد تقویه او صنعتي وده

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د تولیدي فابریکو د کمپلکس پرانیستې» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د توليدي فابريکو د کمپلکس پرانيستې خبر يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.

## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

### الف: امارتي رسنۍ


#### تلويزيونونه





#### راډيوګانې





#### ورځپاڼې





#### اژانسونه




## ويب‌پاڼې




## ويانډويان





## په امارتي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزوني ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلويزيونونه





## راډيوګانې




## ورځپاڼي





## ویب پاڼي





## اژانسونه




## خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د ياد خبر په اړه په رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د توليدي فابريکو د کمپلکس پرانيستې خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوگانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، ويانډويانو او ايکس پاڼو په گډون په امارتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۵۱٦ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۵۹ مثبت دي. ۴۵ منفي نظرونه او ۱۲ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي. مثبت نظرونه ۸۹٪، منفي نظرونه ۹٪ او سالم وړانديزونه ۲٪دي.

۲. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د توليدي فابريکو د کمپلکس پرانيستې خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوگانو، ورځپاڼو، ويبپاڼو او اژانسونو په گډون په خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۱۵۸۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۳۵۲ مثبت، ۱۹۰ منفي او ۴۵ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۵٪، منفي نظرونه ۱۲ ٪ او سالم وړانديزونه ۳ ٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنيو په پرتله په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۹ ده، خو په خصوصي رسنيو کې دا سلنه ۸۵ ده. مگر په خصوصي رسنيو کې بيا د منفي نظرونو او وړانديزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنيو کې په ترتيب سره ۱۲ او ۳، خو په امارتي رسنيو کې بيا ۹ او ۲ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنيو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۱۸۱ مثبت نظرونه، ۲۳۵ منفي نظرونه او ۵۷ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۸٦٪ مثبت نظرونه، ۱۱ ٪ منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړانديزونه دي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته مورږ يوازې د بېلگې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- د خودکفايۍ له پاره گامونه اخيستل هيله بښونکي دي.
- هيله لرم چې د فابريکو د کمپلکس په فعالېدو سره به ځوانانو ته د کار زمينه برابره شي، څو ځوانان له هېواده ونه وځي او د هېواد خدمت وکړي.

- پانګوال دې هېواد ته راشي او خدمت دې وکړي.
- حکومت کولی شي چې سوداګر د مالياتو د کمولو او سوداګرۍ ته د اسانه زمينې برابرولو له لارې تشويق کړي. دا به په هېواد کې د پانګونې د جذب لامل شي.
- افغانستان له هرې اړتيا وړاندې برېښنا، نفتو او ګازو ته اړتيا لري. د بېکارۍ يو لامل د فابريکو له پاره د کافي انرژۍ نه موجوديت دی.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** ځينو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د توليدي فابريکو د کمپلکس فعالېدل د هېواد د خودکفايۍ له پاره هيله بښونکي بللي او دا يې ځوانانو ته د کاري فرصتونو د ايجاد له پاره مهم بللي دي. واقعيت دا دی چې د افغانستان اسلامي امارت د هېواد خودکفايۍ په لور ګړندي ګامونه اخلي او په دې اړه په وروستيو کلونو کې ځانګړي اقدامات شوي دي. اوسمهال افغانستان په ۱۳۰ توکو کې خودکفايۍ ته رسېدلی دی او هڅه کېږي چې دغه شمېر لوړ شي. اسلامي امارت د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب او صنعتي فعاليتونو له لارې هڅې کوي چې د هېواد اقتصاد له مصرفي څخه پر توليدي هغه بدل کړي او نورو هېوادونو ته صادرات زيات شي. دا د هېواد د خود کفايۍ او له وارداتي اقتصاد څخه په صادراتي اقتصاد بدلېدو له پاره اساسي کار دی، چې اسلامي امارت ورته توجه کوي. وروستيو کلونو کې په هېواد کې د صنعتي فعاليتونو زياتېدو سره د بېکارۍ کچه کې د پام وړ بدلون راغلی دی.

☜ **دويم:** يو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې ويلي چې د پانګوالو راستنېدل د هېواد د پرمختګ له پاره مهم دي او حکومت بايد ورته لازمې اسانتياوې برابرې کړي. بې له شکه، پانګونه د يو هېواد د اقتصادي ودې او ابادۍ له پاره ډېره مهمه ده. د افغانستان اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته دې حقيقت ته جدي پاملرنه کړې، تل يې کورني او بهرني پانګوال هڅولي او له هغوی يې غوښتي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. اسلامي امارت ټولو پانګوالو ته د بشپړ ملاتړ او همکارۍ ډاډ ورکړی، په افغانستان کې يې امنيت او ثبات د پانګونې له پاره لويه لاسته راوړنه بللې ده او پانګوال يې هڅولي چې له دې فرصت څخه استفاده وکړي. د خوښۍ ځای دی چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته ګڼ کورني او بهرني پانګوال په بېلابېلو سکټورونو کې فعال شوي او پانګونه يې کړې، چې دا کار نه يوازې د اقتصادي ودې لامل شوی، بلکې سلګونه کاري فرصتونه يې هم رامنځته کړي دي. د يادونې وړ ده چې يوازې حکومتونه يو هېواد اقتصادي ثبات او ودې ته نه شي رسولی، بلکې د خصوصي پانګونې ونډه هم د ملي اقتصاد د پياوړتيا له پاره حياتي او اساسي ارزښت لري.

☜ **درېیم:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو نظریاتو کې د افغانستان له پاره برېښنا، نفت او گاز مهمه اړتیا بللې او زیاتوي چې د بېکارۍ کچې کمېدو او فابریکو د فعالیت له پاره برېښنا اړینه ده. بلکل! برېښنا د نن ورځې د صنعتي فعالیتونو او اقتصادي پرمختگ له پاره اساسي شرط دی. که برېښنا نه وي، نو صنعتي فعالیتونه به کم رنگه وي، د بېکارۍ کچه به لوړه او د پانگونې کچه به ټيټه وي. اوسمهال د هېواد ډېره برېښنا وارداتي ده. د افغانستان اسلامي امارت دغه ستونزه درک کړې او هڅه کوي چې د افغانستان له داخلي سرچینو څخه برېښنا برابره کړي. په همدې موخه په هېواد کې د اوبو، لمریزې او بادي برېښنا د تولید گڼې پروژې تر کار لاندې دي، څو له یوې خوا د هېوادوالو کورونه او هټۍ روښانه شي او له بلې خوا په هېواد کې د صنعتي فعالیتونو او فابریکو له پاره کافي برېښنا برابره شي. دغه راز، افغانستان باید نور له وارداتي برېښنا څخه خلاص شي او خپله برېښنا ولري. ځکه وادراتي برېښنا وخت نا وخت پرې کېږي او هېوادوال له ستونزو سره مخ کوي. د دې ستونزو اساسي حل د خپلې برېښنا لرل دي. د همدې موخې ترلاسه کولو له پاره هلې ځلې روانې دي او هڅه داده چې په راتلونکي کې د برېښنا له اړخه خودکفایۍ ته ورسېږو، له دې سره به اقتصادي وده رامنځته او د بېکارۍ کچه به کمه شي.

## پایله

د هېوادوالو له نظریاتو ښکاري چې هغوی په هېواد کې د تولیدي فابریکو د کمپلکس له فعالېدو خوښ دي او دا د هېواد د پرمختگ له پاره مهم گڼي.

د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د هېوادوالو ستونزو ته رسیده گي وکړي. په هېواد کې د برېښنا د کمښت ستونزه حل کړي. د دې له پاره یې لنډمهاله او اوږدمهاله پلانونه په نظر کې نیولي دي. حکومت په خپله هم هڅې کوي او هم کورني او بهرني پانگوال هڅوي چې په افغانستان کې پانگونه وکړي. اسلامي امارت ورته زمینه برابره کړې او د هر راز ملاتړ ډاډ یې ورکړی دی.

# بهرنيو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان کارګرانو د لېږلو پروسه پيل شوه




## سريزه

په هېوادونو کې بېکاري يوه ستونزه وي او حکومتونه هڅه کوي چې د دې ستونزې د حل له پاره مختلفې لارې په کار واچوي. د حکومت په چوکاټ کې د کاري فرصتونو ايجاد يې يوه حل لاره ده. دغه راز، د خصوصي سکټور پياوړتيا او پراختيا هم د کاري فرصتونو د ايجاد يوه بله لاره ګڼل کېږي. بله لاره يې پرمختللو او کاري فرصت لرونکو هېوادونو ته د مسلکي او ماهرو کارګرو استول دي. د افغانستان اسلامي امارت همدغه ډول يوه پروسه پېل کړه، څو له يوې خوا په هېواد کې د بېکارۍ کچه راکمه شي او له بلې خوا د کار په لټه ځوانان له قانوني لارو څخه نورو هېوادونو ته د کار له پاره لاړ شي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د اسد مياشتې په شپږمه نېټه په انټرکانټيننټل هوټل کې بهرنيو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان ماهرو او مسلکي کارګرانو د لېږلو پروسې د پيل په مراسمو کې ګډون وکړ. محترم ملا صاحب بهرنيو هېوادونو ته د افغان کارګرانو د لېږلو پروسه د هېواد د اقتصادي وضعيت د ښه‌والي او بې‌کارۍ کچې په راټيټولو کې مؤثره وبلله او زياته يې کړه، چې اسلامي امارت له تېرو څلورو کلونو راهيسې هڅه کړې څو د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې د جذب او له نورو هېوادونو سره د اقتصادي اړيکو د پراختيا له لارې په هېواد کې کاري فرصتونه ايجاد کړي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، اوسمهال په هېواد کې د مختلفو پروژو عملي کارونه

روان دي او له نورو هېوادونو سره سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو پراختیا موندلې ده. دې ټولو د هېواد د کار په بازار مثبت تاثیر کړی او ډېر کاري فرصتونه یې ایجاد کړي. د حاجي ملا صاحب په خبره، پردې سربېره اسلامي امارت هڅه کوي، څو له بېلا بېلو لارو چارو څخه په استفادې په هېواد کې د بې کارۍ کچه راکمه کړي،چې یوه لار یې په قانوني ډول بهرنیو هېوادونو ته د افغان کارګرانو لېږل دي او له نیکه‌مرغه دا دی دا پروسه هم پیل شوه. محترم ملا صاحب زیاته کړه، په بهر کې د کاري فرصتونو ایجاد به له کوربه هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزو او اقتصادي اړیکو ته لا ډېره پراختیا ورکړي، اړیکې به نږدې او د افغانستان نړیوال اعتبار به لوړ کړي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، په پرمختللو هېوادونو کې د افغان کارګرانو کار کول دوی ته دا فرصت ورکوي چې نوي مهارتونه زده او له نوي ټکنالوژۍ سره بلد شي او هېواد ته له راتګ وروسته یې د هېواد په ګټه وکاروي. محترم ملا صاحب ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت په هېواد کې د بې کارۍ کچې د کمولو لپاره جدي هڅې کوي او غواړي هیوادوالو ته هوسا او خوشاله ژوند برابر کړي. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کار او ټولنیزو چارو وزارت له مسوولینو مننه وکړه، چې قطر ته یې د افغان کارګرانو د قانوني لېږلو زمینه برابره کړه. د دغه وزارت له مسوولینو یې همدا راز وغوښتل چې خپلو هڅو ته دوام ورکړي او نورې اسانتیاوې هم رامنځته کړي. محترم ملا صاحب له قطر هېواد څخه هم مننه وکړه چې په دې برخه کې یې همکاري وکړه او افغان کارګران قبلوي.


محترم ملا صاحب له نورو هېوادونو څخه هم وغوښتل چې د افغان کارګرانو قانوني منلو ته زمینه برابره او د هغوی له استعداد او مهارتونو څخه ګټه واخلي. د یادونې وړ ده چې د افغانستان اسلامي امارت او قطر هېواد ترمنځ د ۲۰۰۰ ماهرو او مسلکي افغان کارګرانو د لېږلو هوکړه شوې ده، چې په مختلفو ولایتونو کې یې د نوملیکنې پروسه هم ترسره شوه. د کار او ټولنیزو چارو وزارت مسوولین وایي، چې پر قطر سربېره له ایران، روسیې، متحده عربي اماراتو، عمان، تاجکستان، ترکیې، اذربایجان، سعودي عربستان او یوشمېر نورو هېوادونو سره هم د افغان کارګرانو د لېږلو په اړه خبرې دوام لري او دا پروسې د نهایي کېدو په حال کې دي.

## بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان کارګرانو د لېږلو پروسې د پیل موخه:

د بېکارۍ کچې کمول

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان کارګرانو د لېږلو پروسې د پیل» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





**یادونه:**

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان کارګرانو د لېږلو پروسې د پیل خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د خلکو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ


### تلويزيونونه





### راډيوګاني





### ورځپاڼې





### ويب پاڼې





### وياندويان





### ټويټر پاڼې



### اژانسونه





### په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### اژانسونه




### ورځپاڼې



### خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




### امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان کارګرانو د لېږلو پروسې د پیل خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ٦۹٥ دی. د دې نظرونو له جملې ٦١٢ مثبت دي. ٢٢ منفي نظرونه او ٦١ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۸۸، منفي نظرونه ۳٪ او سالم وړاندیزونه ۹٪ دي.

۲. بهرنیو هېوادونو ته په قانوني توګه د افغان کارګرانو د لېږلو پروسې د پیل خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۳۷۴ دی. د دې نظرونو له جملې ۳۷۱۱ مثبت، ۵۰۲ منفي او ١٦١ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۵٪، منفي نظرونه ۱۱ ٪ او سالم وړاندیزونه ۴ ٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۸ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۵ ده. مګر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونوکچه لوړه ده، خو د سالمو وړاندیزونو سلنه کمه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۱۱ او ۴، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۳ او ۹ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په

ټوله کې ۴۳۲۳ مثبت نظرونه، ۵۲۴ منفي نظرونه او ۲۲۲ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۵ ٪ مثبت نظرونه، ۱۰ ٪ منفي نظرونه او ۵٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- دا ډول اقدام د هېواد په کچه د بېکارۍ په کموالي کې مرسته کوي. موږ له امارت څخه غوښتنه کوو چې له نورو هېوادونو سره هم ورته کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې خپل کوښښ وکړي.
- د بېکارۍ په وضعیت کې داسې ګام اخیستل مثبت ګام دی.
- ولې په کور دننه فابریکو ته توجه نه کېږي، تر څو خلک له مسافرۍ خلاص شي.
- خپل وطن کې دې د کار زمینه برابره کړي.
- د افغانانو له پاره دا ډېر لوی خدمت دی، چې په قانوني لارو په خارج کې د کار زمینه ورته برابره شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** ځینو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې څرګنده کړې چې قطر ته د هېوادوالو استول یو ښه ګام دی او دا به د بېکارۍ کچې کموالي کې مرسته وکړي. دوی ویلي چې له نورو هېوادونو سره دې هم د ورته کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې هڅې وشي. هر حکومت غواړي چې د بېکارۍ کچې کمولو له پاره له مختلفو لارو څخه ګټه واخلي، څو په خپل هېواد کې د بېکارۍ کچه راکمه کړي. د افغانستان اسلامي امارت په هېواد کې د بېکارۍ کچې ته په کتو نورو هېوادونو ته د ماهرو او مسلکي کارګرو د لېږد پروسه پیل کړه، څو هېوادوال په بهر کې له ښو کاري فرصتونو څخه برخمن شي. قطر ته د کارګرانو د استولو پروسه یو پیل و. اسلامي امارت غواړي چې نورو هېوادونو ته هم ماهر او مسلکي افغانان د کار له پاره واستوي. په دې اړه یې له یو شمېر هېوادونو سره خبرې روانې کړې دي، چې نږدې وخت کې به له یو شمېر هېوادونو سره په دې اړه موافقې ته ورسېږي.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو خبرو کې ویلي چې په خپل هېواد کې دې د کار زمینه برابره شي. حکومتونه هڅې کوي چې خپلو ټولو هېوادوالو ته په کور دننه کاري فرصتونه ایجاد کړي. په دې اړه اسلامي امارت خپلې هڅې کړې

او کوښښ يې کړی چې هم په حکومتي چوکاټ کې هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شي او هم خصوصي سکټور ته د پانګونې د زمينې برابرولو له لارې هېوادوالو ته کاري فرصتونه ايجاد شي. په وروستيو کلونو کې ډېرو بهرنيو او کورنيو پانګوالو په هېواد کې پانګونې ته مخه کړې چې ګڼو هېوادوالو ته يې کاري فرصتونه ايجاد کړي دي. خو د افغانستان په څېر هېوادونو ته ممکنه نه ده چې ټول هېوادوال يې په کور دننه کاري فرصتونه ترلاسه کړي. په دې اړه ښه غوراوی پرمختللو هېوادونو ته د کارګرانو استول دي، ځکه په هېواد کې د بېکارۍ کچې ګراف ټيټولو له پاره دا يوه بديله لاره ده. ګنې اسلامي امارت له خپل وس څخه زياتې هڅې کړې، خو نړيوال بنديزونه او تحريمونه د دې لامل شوي چې د افغانستان اقتصادي وده ټکنۍ او د بېکارۍ ګراف يو څه لوړ پاتې شي.

☜ **درېيم:** ځينو هېوادوالو په خپلو خبرو کې قطر ته د افغان کارګرانو لېږل لوی خدمت بللی، ځکه کارګران له قانوني لارو څخه نورو هېوادونو ته د کار له پاره ځي. د تېرو څو لسيزو ناخوالو ګڼ شمېر افغانانو اړ کړل چې له غېر قانوني او قاچاقي لارو څخه نورو هېوادونو ته د کار او يوې مړۍ ډوډۍ موندلو له پاره لاړ شي. دغه قاچاقي لارې له سختو ستونزو سره مل دي، چې ان يو شمېر افغانانو په کې خپل ژوند بايللی دی. د افغانستان اسلامي امارت د دې له پاره چې بهر ته د افغانانو لېږل قانوني او ارام وي، نو داسې پروسه يې پيل کړه چې له ستونزو خالي وي، څو افغانان له غېر قانوني او قاچاقي لارو څخه راوګرځي او له قانوني لارو څخه نورو هېوادونو ته د کار له پاره لاړ شي. په دې اړه جدي هڅې کېږي چې کوربه هېوادونو کې د افغان کارګرانو حقوق خوندي وي او ټول هغه حقوق، چې نور يې لري، افغان کارګران هم ترې برخمن وي او له کومې ستونزې سره مخ نه شي.

## پايله

قطر ته د افغانستان اسلامي امارت له لوري د افغان ماهرو او مسلکي کارګرانو لېږل د عامو هېوادوالو له لوري ستايل شوي او دا په هېواد کې د بېکارۍ د ګراف ټيټېدو له پاره مثبت ګام ګڼل شوی دی.

د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې ټولو هېوادوالو ته په کور دننه کاري فرصتونه ايجاد کړي، خو ممکنه نه ده چې ټول هېوادوال دې په هېواد کې په دندو بوخت شي، ځکه نو په بديلو لارو غور وشو، چې يوه لاره يې نورو هېوادونو ته د کارګرانو استول و. د دې پروسې پيل له قطر څخه وشو او تمه ده چې په راتلونکي کې به نورو هېوادونو ته هم افغان کارګران واستول شي.

# لوګر کې د څلوېښت مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې چارې پیل شوې




## سریزه

برېښنا د یو هېواد د هر اړخیزې ودې له پاره ډېره مهمه اړتیا ده. د برېښنا له امله د خلکو د ژوند کیفیت ښه کېږي، صنعتي فعالیتونه ورسره پراخېږي، چې له دې امله بیا کاري فرصتونه ایجادېږي. همدا لامل دی چې د افغانستان اسلامي امارت د برېښنا تولید ته زیاته توجه کړې ده. د دې له پاره په دې وروستیو کې د اسلامي امارت او خصوصي سکټور ترمنځ د شویو هوکړو له مخې د برېښنا د تولید یو شمېر پروژې پیل شوې. څو له یوې خوا د هېواد له سرچینو څخه استفاده وشي او له بلې خوا د هېواد د برېښنا اړتیا پوره شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ کال د اسد میاشتې په نهمه نېټه د لوګر ولایت په محمدآغه ولسوالۍ کې د څلوېښت مېګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې چارې پیل شوې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لوګر ولایت کې د څلوېښت مېګاواټه لمریزې برېښنا پروژې د کار پیل د دغه ولایت او په ټوله کې د افغانستان د اقتصادي ودې له پاره ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه، د دغو پروژو په بشپړېدو سره به په لوګر ولایت کې د برېښنا د کمښت ستونزه تر یوې کچې راکمه ، صنعتي فعالیتونه به زیات او ګڼو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه

ایجاد شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د دې پروژو په تطبیق سره به په لوګر ولایت اقتصادي فعالیتونه زیات او د محمد اغې صنعتي پارک د برېښنا ستونزه به هم حل شي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند برېښنا د هېوادونو د پرمختګ له پاره مهمه اړتیا وبلله او د هېواد د وروسته پاتې والي یو لامل یې د کافي برېښنا نشتوالی یاد کړ. محترم ملاصاحب وویل، افغانستان د انرژۍ د تولید ډېرې سرچینې لري، خو له بده مرغه د انرژۍ له دغو سرچینو څخه سمه استفاده نه ده شوې چې له امله یې هېواد په بهرنۍ برېښنا متکي دی او هر کال سلګونه میلیون ډالره د هغه په بدل کې نورو هېوادونو ته ورکوي.

محترم حاجی ملا صاحب په خپلو خبرو کې وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره د نورو سکټورونو ترڅنګ د انرژۍ سکټور کې هم د پام وړ پرمختګ شوی او په مختلفو ولایتونو کې د نوې کېدونکې انرژۍ د تولید پروژې پیل شوې او د انرژۍ د تولید ترڅنګ د برېښنا د وېش، تنظیم، صنعتي سیمو او هېوادوالو ته د انرژۍ د رسولو یو شمېر پروژې هم تر کار لاندې دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، اسلامي امارت کلک هوډ کړی چې افغانستان به د انرژۍ له اړخه پرځان بسیا کوي او دا هېواد کولای شي نه یوازې د خپلې اړتیا وړ برېښنا تولید کړي بلکې دا ظرفیت لري چې حتی نورو هېوادونو ته هم خپله بریښنا صادره کړي، خو د دې له پاره اړتیا ده چې په هېواد کې اوبه مدیریت او له لمر او باد څخه سالمه استفاده وشي چې اسلامي امارت په همدې موخه اوږد مهاله پلانونه تر کار لاندې نیولي دي.

محترم ملا صاحب د پروژو له قراردادي شرکت څخه وغوښتل چې د کار کیفیت ته جدي پام وکړي او په ټاکلي وخت یې بشپړ کړي.


دا پروژه چې د لوګر ولایت په محمدآغه ولسوالۍ کې پلي کیږي دوې برخې لري چې یوه یې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید دستګاه جوړول دي چې په بشپړولو یې ۲۸ میلیون ډالره لګښت راځي. د دې پروژې بله برخه د ۱۲٦ میګاولټ امپیر سب استیشن جوړول او د برېښنا د انتقالي لین غځول دي چې ۷ میلیونه او ٦۰۰ زره ډالره لګښت لري. دا پروژه چې په پام کې ده په ۱۸ میاشتو کې یې د جوړولو چارې بشپړې شي، د سیمې ۴۰ زره کورنیو ته به د اړتیا وړ برېښنا ورسوي او د محمدآغې د صنعتي پارک د برېښنا د کموالي ستونزه به هم حل کړي.

## لوګر کې د څلويښت ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژې موخه:

د سیمې خلکو او اقتصادي فعالیتونو له پاره د برېښنا برابرول

## په هغو رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «لوګر کې د څلويښت ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژې» خبر يې خپور کړی دی:


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ




### د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### يادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې لوګر کې د څلويښت ميګاواټه لمريزې برېښنا د توليد پروژې خبر يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه





### ویاندویان




### ټویټرپاڼې




## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


### تلویزیونونه





### راډیوګاني





### ورځپاڼې





### اژانسونه




### ویب پاڼې




### خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




### امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. لوګر کې د څلوېښت میګاواټه لمریزې بریښنا د تولید پروژې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵۵۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۸٦ مثبت دي. ۲۴ منفي نظرونه او ۲۴ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۸۸، منفي نظرونه ٪۸ او سالم وړاندیزونه ٪۴ دي.

۲. لوګر کې د څلویښت میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۱۵۹۸ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۳۷۱ مثبت، ۱۹۶ منفي او ۸۵ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۳٪، منفي نظرونه ۱۲٪ او سالم وړاندیزونه ۵٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۸۸ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۳ ده. مګر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۱۲ او ۵، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۸ او ۴ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۸۵۷ مثبت نظرونه، ۲۳۹ منفي نظرونه او ۱۰۹ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۴٪ مثبت نظرونه، ۱۱٪ منفي نظرونه او ۵٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- په هېواد کې هره ورځ د برېښنا د تولید مرکزونه فعالېږي، خو اوس هم په کابل ښار کې څلور ویشت ساعته برېښنا نه لرو. لامل یې څه شی دی؟
- خو په پلازمېنه کابل کې په شپه او ورځ کې څلور ساعته برېښنا نه لرو.
- د سولرې پر ځای باید بادي برېښنا ته هم لږ کار وشي.
- د اوبو برېښنا بندونو جوړولو ته دې توجه وشي. افغانستان ډېرې اوبه لري او ډېرې یې بې فایدې بهېږي.
- ډېر ښه کار دی. عامه ګټو پروژې دې په ټولو ولایتونو کې تطبیق شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** یو شمېر هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې ویلي چې په هېواد کې د برېښنا پروژې پیلېږي، خو په کابل ښار کې لا هم د برېښنا ستونزه شته. بلکل! په کابل ښار کې د برېښنا د کمښت ستونزه شته، خو د ستونزې اصلي ریښه

تېر ته ورګرځي، ځکه په تېر کې په هېواد کې د برېښنا تولید ته ډېره توجه نه ده شوې او پر وارداتي برېښنا تکيه شوې. زموږ د برېښنا له اويا سلنې ډېره برخه له ګاونډيو هېوادونو څخه واردېږي. همدا لامل دی چې موږ خپله برېښنا نه لرو او پردۍ برېښنا د ځنيو ستونزو له امله وخت نا وخت پرې کېږي، چې له امله يې زموږ هېوادوال او صنعتي ښارګوټي کافي برېښنا نه لري او ستونزې رامنځته کېږي. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې د برېښنا ستونزې ته اساسي حل ومومي او پر بهرنۍ برېښنا تکيه راکمه شي. د همدې له پاره يې په هېواد کې د برېښنا توليد ته زياته توجه کړې، څو له خپلو سرچينو استفاده وشي او پر وارداتي برېښنا په تدريجي ډول تکيه راکمه شي. په دې اساس، له خپلو سرچينو څخه به د برېښنا د توليد په پايله کې ځان بسيا ينې ته ورسېږو. خو دا کار لږه حوصله غواړي، ځکه د پروژو تکميل وخت غواړي. هېوادوال بايد حوصله ولري، څو پيل شوې پروژې بشپړې شي.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو ويلي چې بادي برېښنا توليد ته دې هم توجه وشي. افغانستان له باد څخه د برېښنا ډېر ظرفيت لري. هرات، فراه، نيمروز او يو شمېر نور ولايتونه د بادي برېښنا لوړ ظرفيت لري. اسلامي امارت د بادي برېښنا پروژې هم په پام کې نيولي دي. موده وړاندې په هرات ولايت کې د بادي برېښنا يوه لويه پروژه پرانيستل شو. دا يوازې پيل و. وروسته به د خدای تعالی په فضل سره د افغانستان له دې ظرفيت څخه هم سالمه ګټه واخيستل شي او د برېښنا د توليد پروژې به پيل شي. ځينو هېوادوالو بيا د اوبو بندونو غوښتنه کړې ده. د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د اوبو مديريت په خپل لومړيتوب کې نيولی دی. د کرنې او برېښنا د توليد له پاره د ګڼو بندونو چارې پيل شوې دي او هغه چې په پلان کې دي، نږدې راتلونکي کې به يې چارې پيل شي. اسلامي امارت غواړي چې خپلې اوبه په سم ډول مديريت کړي او سالمه استفاده ترې وکړي.

☜ **درېيم:** يو شمېر هېوادوالو ويلي چې په ټولو ولايتونو کې دې پروژې تطبيق شي. د افغانستان اسلامي امارت د ټولو افغانانو نماينده حکومت دی او هڅه کوي چې ټول هېواد متوازن انکشاف وکړي او پراختيايي پروژې په ټول هېواد کې يو شان تطبيق شي. موږ ګورو چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د سړکونو، بندونو، کانالونو، لمريزې برېښنا د توليد پروژو او نورو پروژو چارې روانې دي. اسلامي امارت ټول افغانستان کې پرمختګ غواړي، ځکه د افغانستان د هر ګوټ پرمختګ د ټول افغانستان پرمختګ دی او د ټول هېواد په اقتصادي وضعيت اغېز لري.

## پایله

په لوګر ولایت کې د څلوېښت مېګاواټه لمریزې برېښنا پروژه د سیمې د خلکو د اقتصادي وضعیت د بدلون له پاره مهمه پروژه ده. دې سره به په سیمه کې اقتصادي فعالیتونه زیات شي او د خلکو د ژوند کیفیت کې به بدلون راشي. ځینو هېوادوالو په کابل ښار کې د برېښنا له کمښت څخه شکایت کړی، خو اسلامي امارت د دې ستونزې د حل له پاره پر اساسي حل کار کوي او هغه په هېواد کې له کورنیو سرچینو څخه د برېښنا تولید دی، څو په وارداتي برېښنا د تکیې کچه په تدریجې ډول راکمه شي، پرچاوي له منځه لاړه شي او د برېښنا برخه کې ځان بسیاینې ته ورسېږو.

# د لس زره ټنه کلني ظرفيت په درلودو سره د مميزو د پروسس فابريکه پرانيستل شوه



## سريزه

افغانستان کرنيز هېواد دی او لوی اکثريت هېوادوال مو په کرنه بوخت دي. دلته هر کال زرګونه ټنه وچه او تازه مېوه بازار ته وړاندې کېږي چې يوه اندازه يې نورو هېوادونو ته صادرېږي. افغانستان ښه او مختلف ډوله انګور لري، چې د مختلف ډوله مميز ترې جوړېږي. د دې له پاره چې دغه مميز په ښه ډول پروسس او په معياري ډول کورنيو او بهرنيو بازارونو ته وړاندې شي، نو يو منظم پلان او کار ته اړتيا لري. په همدې موخه د کابل استالف ولسوالۍ کې د خصوصي سکټور له لوري يوه فابريکه ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د اسد مياشتې په اتمه نېټه د کابل ولايت په استالف ولسوالۍ کې د مميزو د پروسس فابريکې پرانيستغونډه کې ګډون وکړ. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې فابريکې د فعاليت پيل د کرنيزو محصولاتو د ارزښت لوړولو په برخه کې مهم ګام ياد کړ او ويې ويل، په دې سره به د سيمې اقتصاد په حرکت راشي، صادرات به معياري بڼه غوره کړي او سلګونو هېوادوالو ته به د کار زمينه هم برابره شي چې دا د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته کولی شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، اسلامي امارت د نورو برخو ترڅنګ د کرنې سکټور ته هم ځانګړې پاملرنه کړې او د کرنیز اقتصاد د ودې په هدف د اوبو مدیریت بېلابېلې پروژې پیل شوې. محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت د سیمې او نړۍ هېوادونو ته د کرنیزو محصولاتو د صادراتو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړې دي، دغو محصولاتو ته یې د بازارموندنې په موخه نندارتونونه جوړ کړي او پر هغو وارداتو یې تعرفې لوړې کړې، چې په کور دننه تولیدېږي.


حاجي ملا صاحب زیاته کړه چې همداراز اسلامي امارت د کرنې سکټور د پیاوړتیا لپاره د کورنیو کرنیزو محصولاتو کارولو ته لومړیتوب ورکړی، د اوبو لګولو سیستمونو د ښه والي، سړو خونو د ایجاد او د پروسس او بسته بندۍ خونو د جوړولو په برخه کې هم پرمختګ شوی. محترم ملا صاحب بهر ته د کرنیزو محصولاتو د صادراتو پر کیفیت او بسته‌بندۍ ټینګار وکړ او دا یې د افغانستان د اعتبار او سوداګریزو اړیکو لپاره مهم وبلل. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د سوداګرۍ کچې زیاتېدو لپاره پر سیمه‌ییز اتصال ډېر تمرکز کړی او له نیکه‌مرغه اوسمهال د افغانستان د اوسپنې پټلۍ شبکې پراختیا موندلې چې پرمټ یې له ډېرو هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې ټینګې او پراخې شوې دي. هغه زیاته کړه چې اسلامي امارت هڅه کوي څو د لاجوردو دهلېز په بشپړ ډول فعال شي او په دې اړه یې د ایکو سازمان په وروستۍ غونډه کې هم د دغه دهلیز له ښکېلو هېوادونو سره خبرې کړې دي، څو افغانستان د اروپا بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي. د دغه فابریکې د پرانیستې پرمهال د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد په اقتصادي وده کې د خصوصي سکټور او پانګوالو رول مهم وباله او ویې ویل، چې پانګوالو ته یې په مختلفو برخو کې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. هغه زیاته کړه، ټول پانګوال کولی شي پر کرنه او صنعت سربېره، د کانونو، انرژۍ، مخابراتو، ترانسپورټ او خدماتو په برخو کې هم پانګونه وکړي. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د افغان سمون د ممیزو د پروسس فابریکې مسوولینو د پانګونې او د فعالیت د پیل هرکلی وکړ او هغوی ته یې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ. محترم ملا صاحب د دې فابریکې له مسوولینو وغوښتل چې د کمیت پر ځای کیفیت او معیاري پروسس او بسته‌بندۍ ته لومړیتوب ورکړي. د یادونې وړ ده چې د افغان سمون د ممیزو د پروسس فابریکه په ۱۲۸ جریبه ځمکه جوړه شوې، ۸ میلیون ډالر پانګونه پکې شوې او په کلني ډول د ۱۰ زره ټنه ممیزو د پروسس وړتیا لري. د دغه فابریکې له لوري پروسس او بسته‌بندي شوي ممیز به روسیې، سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو، هند، کاناډا، امریکا، برېټانیا او د ختیځې اسیا هېوادونو ته صادر شي.

## د لس زره ټنه کلني ظرفیت په درلودو سره د ممیزو د پروسس فابریکې پرانیستې موخه:

د کرنیزو محصولاتو ملاتړ او اقتصادي وده

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د لس زره ټنه کلني ظرفیت په درلودو سره د ممیزو د پروسس فابریکې» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د د لس زره ټنه کلني ظرفیت په درلودو سره د ممیزو د پروسس فابریکې پرانیستې خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه





### ویاندویان





### ټویټرپاڼې



### ويب پاڼې





### په امارتي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## ب: خصوصي رسنۍ


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه




### ویب پاڼې




### خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




### امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. د لس زره ټنه کلنې ظرفیت په درلودو سره د ممیزو د پروسس فابریکې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۴۴۷ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۲۵ مثبت دي. ۱٦ منفي نظرونه او ۹ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۴، منفي نظرونه ٪۳.۵ او سالم وړاندیزونه ٪۲.۵ دي.

۲. د لس زره ټنه کلني ظرفیت په درلودو سره د ممیزو د پروسس فابریکې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۲۲۳۴ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۸۵۹ مثبت، ۲۵۵ منفي او ۱۲۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۳٪، منفي نظرونه ۱۱٪ او سالم وړاندیزونه ۶٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۳ ده. مګر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۱۱ او ۶، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۳.۵ او ۲.۵ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۲۲۸۴ مثبت نظرونه، ۲۷۱ منفي نظرونه او ۱۲۹ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۵٪ مثبت نظرونه، ۱۰٪ منفي نظرونه او ۵٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- ډېر ښه ګام! دا کارخونه به د کروندګرو عواید لوړ کړي. کارموندنه زیاتوي او صادرات پیاوړي کوي. دا ډول پروژې د هېواد اقتصادي ثبات ته مهم ارزښت لري.
- ماشاءالله! دا د اسلامي امارت له لوري یو ستر اقتصادي ګام دی. د ممیزو فابریکه نه یوازې صادرات پیاوړي کوي، بلکې د کورني تولید اعتبار هم لوړوي.
- دا پانګونه ښیي چې افغانستان کولی شي چې له خپلو سرچینو څخه په هوښیارۍ ګټه واخلي.
- ښه خبره ده. افغانستان باید د خپلو محصولاتو له پاره فابریکې جوړې کړي، څو خام مواد همدلته پروسس شي.
- د موټر سایکل جوړولو یا موټر جوړولو فابریکه دې جوړه شي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

**لومړی:** اکثریت هېوادوالو د ممیزو د پروسس فابریکې پرانیسته یو ښه او مثبت خبر او د بېکارۍ کچې کمولو له پاره مهم گام بللی دی. په وروستیو کلونو کې په هېواد کې د خصوصي سکټور له لوري پانگونه زیاته شوې او په ډېرو برخو کې گڼو فابریکو فعالیت پېل کړی دی چې دا د هېوا د اقتصادي ودې او ثبات له پاره مهم گامونه دي. واقعیت دا دی چې پانگونه په هېواد کې د کاري فرصتونو د ایجاد لامل گرځي. همدا لامل دی چې د افغانستان اسلامي امارت کورني او بهرني پانگوال هڅوي چې په افغانستان کې پانگونه وکړي. اسلامي امارت پانگوالو ته د هر راز ملاتړ او همکارۍ ډاډ ورکوي. که په هېواد کې پانگونه ونه شي، نو د بېکارۍ کچه به راکمه نه شي، بېوزلي به حاکمه وي او خلک به نورو هېوادونو ته د کار له پاره ځي. په دې اساس اسلامي امارت د پانگونې ارزښت درک کړی او مني چې پانگونه د بېکارۍ کچې کمولو له پاره مهمه ده. د ممیزو پروسس فابریکو په څېر فابریکو پرانیسته د بېکارۍ کچې کمولو ترڅنگ د هېواد کرنې له پاره ډېرې مهمې دي، ځکه له دې لارې کولی شو چې معیاري کرنیز محصولات نورو هېوادونو ته واستوو.

**دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو تبصرو کې ویلي چې د ممیزو فابریکې پرانیسته ښیي چې له خپلو سرچینو څخه په هوښیارۍ گټه اخیستل کېدای شي. رښتیا هم، افغانستان د اقتصادي پیاوړتیا له پاره گڼې طبیعي او کرنیزې سرچینې لري، چې یوه مهمه یې تازه مېوه ده. د تازه مېوو په وچو بدلول او د دواړو (تازه او وچې مېوې) صادرول په نړۍ کې د مهمو اقتصادي فعالیتونو له جملې څخه دي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د نورو سرچینو تر څنگ د کرنیزو حاصلاتو د پروسس بهیر پیاوړی او پراخ کړي، څو د صادراتو له لارې د افغاستان ملي اقتصاد ته وده ورکړي. د کرنې سکټور د افغانستان په اقتصادي پرمختگ کې اساسي رول لري او اسلامي امارت د یاد سکټور د پیاوړتیا له پاره هلې ځلې کوي.

**دریيم:** یوشمېر هېوادوالو په خپلو خبرو کې د موټر سایکل او موټر جوړولو د فابریکو غوښتنه کړې ده. د دوی په ځواب کې باید ووایو چې د افغانستان په څېر اشغال او بېوزلۍ ځپلی هېواد، چې هر سکټور یې ډېر زیانمن شوی، په یو ځای پرمختگ نه شي کولی. د دې پرمختگ له پاره زیات وخت ته اړتیا وي. زموږ هېواد د موټر جوړولو وړتیا لري او وروستیو کې مو ولیدل چې د ملي پراختیا شرکت له لوري مختلف ډوله موټر جوړ او ننداريې ته وړاندې شول. خو د هېواد صنعتي کېدل او د پرمختللو او مختلف ډوله موټرو تولید او دې صنعت ته وده ورکول وخت ته اړتیا لري. اسلامي امارت چې په تېرو څلور کلونو کې کوم پرمختگونه کړي، بې ساري دي. د خدای تعالی په فضل سره به راتلونکي کې د موټرو د صنعت په اړه ښه خبرونه ولرو.

## پایله

د کابل استالف ولسوالۍ کې د ممیزو د پروسس فابریکې پرانیسته د سیمې او په ټوله کې د افغانستان د اقتصادي ثبات له پاره یو مثبت گام دی. د فابریکې له لارې به د افغانستان معیاري کرنیز محصولات نورو هېوادونو ته واستول شي.

د هېوادوالو له لوري د ممیزو د پروسس فابریکې پرانیسته یو ښه او مثبت گام بلل شوی دی. هېوادوالو ویلي چې د ممیزو د پروسس دا فابریکه ښیي چې موږ له خپلو سرچینو څخه په هوښیارۍ گټه اخیستلی شو. اړتیا ده چې فابریکې جوړې او خام مواد په خپل هېواد کې پروسس شي.

# په افغانستان کې د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید تفاهم‌لیک لاسلیک شو



## سریزه

برېښنا د هېواد د صنعتي پرمختګ او د هېوادوالو د ژوند د سطحې لوړولو له پاره ډېره اړینه ده. په تېرو لسیزو کې د هېواد د برېښنا د تولید له سرچینو څخه کافي استفاده ونه وشوه. همدا لامل دی چې موږ د برېښنا په برخه کې په نورو هېوادونو متکي یوو او ډېره برخه برېښنا له نورو هېوادونو واردوو. خو د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته په هېواد کې په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې فرصت برابر شو او د برېښنا سکټور کې هم بهرنیو او کورنیو پانګوالو پانګونه وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۴ کال د اسد میاشتې په ۱۱مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د اوبو او انرژۍ وزارت او عزیزي انرژي خصوصي شرکت ترمنځ د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید، لېږد او ویش په برخه کې تفاهم‌لیک لاسلیک شو. د دغه تفاهم‌لیک د لاسلیک پرمهال د عزیزي انرژي خصوصي شرکت عمومي رییس میرویس عزیزي وویل، د اسلامي امارت په همکارۍ او ملاتړ د دغه پانګونې لپاره قوي هوډ او پوره ژمنتیا لري چې سر له سبا به یې عملي چارې پیل شي. عزیزي انرژي خصوصي شرکت به د هېواد په مختلفو برخو کې له ګازو، ډېرو سکرو، اوبو، باد او لمر څخه لس زره میګاواټه برېښنا تولید کړي. په دې سره به له ۷ تر ۱۰ کلونو په جریان کې افغانستان د برېښنا تولید په برخه کې بشپړې خودکفایۍ ته

ورسېږي او ان بهرنیو هېوادونو ته به هم برېښنا صادره کړي. د لس زره میګاواټه برېښنا څخه به څلور زره میګاواټه برېښنا عامو هېوادوالو او شپږ زره میګاواټه به صنعتي فابریکو ته ځانګړې وي، چې له مخې به یې په زرګونو نوې فابریکې جوړې شي، په میلیونونو افغانانو ته به د کار زمینه برابره او د هېواد اقتصاد به ورسره د پام وړ پرمختګ وکړي.


د دغه تفاهم‌لیک له لاسلیک وروسته به د اوبو او انرژۍ وزارت او عزیزي انرژي خصوصي شرکت تخنیکي ټیمونه اړوندو سیمو ته لاړ شي، د لسو ورځو په جریان کې به سروې بشپړه کړي او په راتلونکو شپږو میاشتو کې به یې ډیزاین چمتو شي. له شپږو میاشتو وروسته به په لومړي سر کې له دوه تر درېیو زرو میګاواټو برېښنا د تولید پروژو عملي چارې پیل شي.

## په افغانستان کې د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید د تفاهم‌لیک موخه:

اقتصادي وده او پر وارداتي برېښنا له تکیې خلاصون

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «په افغانستان کې د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید د تفاهم‌لیک» خبر یې خپور کړی دی:**


**الف: امارتي رسنۍ**




**ب: خصوصي رسنۍ**



## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې په افغانستان کې د لس میلیارډ ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید د تفاهم‌لیک خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


## په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

### الف: امارتي رسنۍ


#### تلویزیونونه





#### راډیوګانې





#### ورځپاڼې




#### اژانسونه




## ویاندویان





## ټوېټر پاڼې




## ویب پاڼې





## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


## تلویزیونونه





## راډیوګانې




## ورځپاڼې





## اژانسونه





## ویب پاڼې




## خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د ياد خبر په اړه په رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. په افغانستان کې د لس ميليارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد د تفاهم‌ليک خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، ويانديانو او ايکس پاڼو په ګډون په امارتي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۱۶۶۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۱۵۱۲ مثبت دي. ۱۰۷ منفي نظرونه او ۴۴ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي. مثبت نظرونه ٪۹۱، منفي نظرونه ٪۶ او سالم وړانديزونه ٪۳ دي.

۲. په افغانستان کې د لس ميليارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد د تفاهم‌ليک خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۹۴۰۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۷۰۴۹ مثبت، ۱۷۳۶ منفي او ۶۱۷ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ٪۷۵، منفي نظرونه ٪۱۸ او سالم وړانديزونه ٪۷ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنيو په پرتله په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۱ ده، خو په خصوصي رسنيو کې دا سلنه ۷۵ ده. مګر په خصوصي رسنيو کې بيا د منفي نظرونو او وړانديزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنيو کې په ترتيب سره ۱۸ او ۷، خو په امارتي رسنيو کې بيا ۶ او ۳ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنيو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۸۵۶۱ مثبت نظرونه، ۱۸۴۳ منفي نظرونه او ۶۶۱ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ٪۷۷ مثبت نظرونه، ٪۱۷ منفي نظرونه او ٪۶ سالم وړانديزونه دي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته موږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- دا ګام کولی شي د کار پيدا کولو، د زيربناوو ودې او د پانګوالو د نوي باور له پاره لاره هواره کړي. خدای دې وکړي چې دا د افغانستان د پراختيا په سفر کې د يو نوي فصل پيل وي.

- دا لومړی ځل دی چې په افغانستان کې لس میلیارده ډالره پانګونه کېږي، چې دا کار خورا دستاینې او تمجید وړ دی. نور پانګه وال دې هم دا زړورتیا وښیی او په افغانستان کې دې پانګونه وکړي.
- که افغانستان د برېښنا له اړخه خودکفا شي، نو ګاونډيو هېوادونو ته به د میلیونونو ډالرو مخه ونیول شي.
- د لس زره میګاواټه برېښنا تولید به نه یوازې افغانستان په کور دننه خودکفا کړي، بلکې ویلی شو چې اضافه برېښنا به نورو هېوادونو ته صادره کړو.
- ښه کار دی. خدای دې ورته نور توفیق هم ورکړي. افغانستان ډېر سیندونه لري. په کونړ سیند یا نورستان کې دې د برېښنا بند جوړ کړي. دا به ډېر مهم کار وشي. ځمکې به هم خړوبې شي او برېښنا به هم تولید شي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** اکثریت هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې په هېواد کې د لس میلیارد ډالرو پانګونه ستایلې او هغه یې د هېواد د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو د ایجاد له پاره مهمه بللې. په یو هېواد کې د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو د ایجاد له پاره کورنۍ او بهرنۍ پانګونه ډېره مهمه وي. هېڅ هېواد له پانګونې پرته پرمختګ نه شي کولی. افغانستان په اوس وخت کې د نورو سکټورونو ترڅنګ د برېښنا سکټور کې ډېرې پانګونې ته اړتیا لري، ځکه هېواد مو د برېښنا له کمښت سره مخ دی او همدې کمښت په هېواد کې په صنعتي فعالیتونو سیوری غوړولی دی. کله چې په کوم هېواد کې برېښنا ډېره وي، نو صنعتي فعالیتونه ورسره غوړېږي او همدا بیا د کاري فرصتونو او د یو هېواد صنعتي کېدو لامل ګرځي. د عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت له لوري د لس زره میګاواټه برېښنا تولید د هېواد له پاره یو ښه زیری دی، چې په پلي کېدو سره به یې په هېواد اقتصادي وده ګړندۍ او ډېر کاري فرصتونه به ایجاد شي.

☜ **دویم:** ځینو هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ویلي چې که چېرته افغانستان د برېښنا له اړخه خودکفا شي، نو له یوې خوا به نورو هېوادونو ته د وارداتي برېښنا پیسې ورکول بند شي او له بلې خوا به اضافه برېښنا نورو هېوادونو ته صادره کړو. بلکل! افغانستان د دې ظرفیت لري چې له خپلې اړتیا څخه ډېره برېښنا تولید کړي. که چېرې د عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت له لوري لس زره میګاواټه برېښنا تولید شي او ترڅنګ یې د برېښنا یوشمېر نورې پروژې بشپړې شي، نو افغانستان به نه یوازې له ګاونډيو هېوادونو څخه اوسنۍ وارداتي برېښنا بنده او د هغوی له احتیاجه به خلاص شي، بلکې موږ به د دې وړتیا پیداکړو چې اضافه برېښنا نورو هېوادونو ته صادره کړو. زموږ په سیمه کې داسې هېوادونه شته چې د برېښنا اړتیا یې بیخي ډېره ده. په دې اساس به موږ وکولی شو چې خپله اضافه برېښنا په نورو هېوادونو وپلورو او ډېر عواید ترلاسه کړو.

☜ **درېیم:** ځینو هېوادوالو په خپلو خبرو کې په کونړ او نورستان کې د اوبیزې برېښنا بندونو د جوړولو خبره کړې ده. افغانستان ډېر سیندونه او ډېرې اوبه لري، خو په تېر کې ترې سالمه استفاده نه ده شوې. د افغانستان اسلامي امارت د اوبو بندونو جوړولو پلان لري، چې یوشمېر بندونه ګټې اخیستنې ته سپارل شوي او د ځینو کارونه روان دي. د ځینو بندونو جوړېدو په اړه به ووایو چې هغه زیاتو پیسو ته اړتیا لري او سترې پروژې دي، چې کلونه وخت ته اړتیا لري. اوس وخت کې د داسې لنډ مهاله او لږ لګښت پروژو ته اړتیا ده چې کارونه یې ژر پای ته ورسېږي او ژر ګټې اخیستنې ته وسپارل شي، ځکه هېواد مو برېښنا ته جدي اړتیا لري.

## پایله

په هېواد کې د عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت له لوري د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د مختلفو پروژو پلي کېدو سره به په هېواد کې د برېښنا سکټور او ترځنګ یې اقتصادي وده کې لوی تحول راشي. اکثریت هېوادوالو د دغې پانګونې ملاتړ کړی او هغه یې په هېواد کې د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو د ایجاد په برخه کې مهم ګام ګڼلی دی.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال سره وکتل



## سریزه

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنسټ له ټولې نړۍ سره ښې سیاسي او اقتصادي اړیکې غواړي. د روسیې فدراسیون چې د نړۍ یو مطرح ځواک دی، افغانستان ورسره پراخو سیاسي او اقتصادي اړیکو ته ارزښت ورکوي. د اسلامي امارت د بریالۍ ډیپلوماسۍ په پایله کې روسیې اسلامي امارت په رسمیت وپېژانده. د روسیې جمهوریتونه، چې په روسیه کې ځانګړی ځای لري، له اسلامي امارت سره اړیکو ته ډېر لیواله شوي دي. همدې لېوالتیا د روسیې تاتارستان جمهوریت لوړ پوړي مسوولین تر کابله راورسول او اسلامي امارت له لوړ پوړو مسوولینو سره یې په مختلفو موضوعاتو خبرې وکړې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د اسد میاشتې په ۱۴مه نېټه په ارګ کې د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال او صنعت او سوداګرۍ وزیر اولیګ ولادیمرووېچ کورو بچینکو سره وکتل. د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو د اقتصادي همکاریو او ګډې سوداګرۍ پر زیاتوالي خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لومړي سر کې له روسیې فدراسیون څخه مننه وکړه چې اسلامي امارت یې په رسمیت وپېژانده او په دې سره د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې نوي پړاو ته داخلې شوې. محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت د روسیې فدراسیون له ټولو جمهوریتونو سره پراخې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې غواړي او په دې اړه یې

د کازان په ۱۶م نړيوال اقتصادي فورم کې ګڼ شمېر مجلسونه درلودل. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال زياته کړه، اسلامي امارت په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونې زمينه برابره کړې او له خپل لوري د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي. د محترم ملا صاحب په خبره، د تاتارستان جمهوريت کولی شي له دې فرصت څخه په استفادې په افغانستان کې د سړکونو، تونلونو، اوبو رسولو شبکو، بندونو او کورونو جوړولو، کيمياوي صنعت او همداراز له پنجشير سيند څخه کابل ته د اوبو انتقال پروژه کې پانګونه وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل او کازان ترمنځ د ګډې سوداګرۍ د زياتوالي لپاره تاتارستان ته د افغاني صادراتو پر زياتوالي او همداراز له دغه هېواد څخه د باکيفيته خوراکي توکو، درملو او تخنيکي وسايلو پر وارداتو او ددې ترڅنګ د دواړو لورو د اړوندو وزارتونو او ادارو پر ګډ کار کولو هم ټينګار وکړ.

ورپسې د تاتارستان د لومړي وزير مرستيال اوليګ ولاديمرووېچ کورو بچينکو خبرې وکړې. نوموړي وويل، د روسيې فدراسيون له لوري د اسلامي امارت په رسميت پېژندنې سره د تاتارستان او افغانستان ترمنځ په مختلفو برخو کې د تعامل لپاره ډېر سهولتونه رامنځته شوي دي. هغه زياته کړه، چمتو دي چې له پنجشير سيند څخه کابل ته د اوبو د انتقال پروژه او همداراز نورو برخو کې پانګونې وکړي. د تاتارستان د لومړي وزير مرستيال زياته کړه، د دې سفر پرمهال د تاتارستان د صنعتي شرکتونو مسوولين ورسره راغلي او لېواله دي چې له افغانستان سره په مختلفو برخو کې همکاري پيل کړي.


په پای کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال کابل ته د تاتارستاني پلاوي راتګ د کابل او کازان ترمنځ په مختلفو برخو کې د اړيکو پراخولو لپاره د نوي او ګڼ شمېر باب پيل وباله.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوريت د لومړي وزير له مرستيال سره د کتنې موخه:

د اقتصادي اړيکو پياوړتيا

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال سره د کتنې» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال سره د کتنې خبر یې په ویډیویي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنيو کې د ياد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه





### وياندويان




### ټويټرپاڼې




## په امارتي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





### ب: خصوصي رسنۍ


#### تلویزیونونه





#### راډیوګانې





#### ورځپاڼې





#### اژانسونه




## ويب پاڼې




## خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## امارتي او خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱ . محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال سره د کتنې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په گډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۷۰۹ دی. د دې نظرونو له جملې ٦٥٦ مثبت دي. ٣٦ منفي نظرونه او ۱۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۳٪، منفي نظرونه ۵٪ او سالم وړاندیزونه ۲٪ دي.

۲ محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال سره د کتنې خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په گډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵۳۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۴۲۴ مثبت، ٦١ منفي او ۴۷ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۰٪، منفي نظرونه ۱۱٪ او سالم وړاندیزونه ۹٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۳ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۸۰ ده. مگر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۱۱ او ۹، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۵ او ۲ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۱۰۸۰ مثبت نظرونه، ۹۷ منفي نظرونه او ٦۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۸۷٪ مثبت نظرونه، ۸٪ منفي نظرونه او ۵٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلگې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- افغانستان د پانگونې گڼ فرصتونه لري. کورني او بهرني پانگوال دې له دې زرین چانس څخه گټه واخلي.
- د اسلامي امارت له راتگ سره په افغانستان کې د پانگونې له پاره مناسب فرصت رامنځته شوی.
- د کابل د اوبو مسله جدي ده. د پنجشېر اوبه دې کابل ته راوستل شي.

- پنجشېر خوړې اوبه لري او ورځنې ژوند د استفادې له پاره د ګټې اخيستنې وړ دي. د کابل د اوسېدونکو له پاره دې وکارول شي.
- د سيمې له هېوادونو سره اړيکې د افغانستان د اقتصاد له پاره ګټورې دي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** اکثريت هېوادوالو ويلي دي چې په افغانستان کې د پانګونې ډېرې فرصتونه شته. واقعيت دادی چې د اسلامي امارت له راتګ سره په هېواد کې اشغال پای ته ورسېد او په ټول هېواد کې د سرتاسري امنيت په حاکمېدو سره په په ټولو سکتورونو کې د پانګونې فرصتونه برابر شول. اسلامي امارت هم کورني او بهرني پانګوال هڅولي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي. حکومت ټولو پانګوالو ته د پانګونې زمينه برابره کړې او په دې برخه کې يې د پانګوالو ملاتړ کړی او هغوی ته يې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړی دی. موږ او تاسو وينو چې په تېرو څلورو کلونو کې ګڼ شمېر کورنيو او بهرنيو پانګوالو په افغانستان کې پانګونه کړې او دا لړۍ په چټکۍ سره روانه ده. ورځ تر بلې پانګوال په افغانستان پانګونه کوي او په افغانستان کې په مختلفو سکتورونو کې د پانګونې له فرصتونو استفاده کوي.

☜ **دويم:** د يوشمېر هېوادوالو له نظره د پنجشېر سيند اوبه دې کابل ته راوستل شي، څو په کابل کې د ځمکې لاندې اوبو ستونزه حل شي. هو! په کابل کې د ځمکې لاندې اوبه مسله جدي ده. د تېرې ادارې د نه پاملرنې، د اقليمي بدلونونو او نورو لاملونو له امله په کابل ښار کې د ځمکې لاندې اوبو کچه ټيټه شوې ده. دې کار د ښار اوسېدونکي له ډېرو ستونزو سره مخ کړي او ګڼې نورې اندېښنې يې رامنځته کړې دي. د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې دې ستونزې ته د حل لاره پيداکړي. په دې اړه هڅه روانه ده چې د پنجشېر سيند اوبه کابل ته راوستل شي، څو د ښار تر ځمکې لاندې اوبه مسله ورسره تر ډېره بريده حل شي. د دې له پاره پلان شته او د اسلامي امارت اړوند ارګانونه هڅې کوي چې د پانګونې له لارې دغه پروژه پلي کړي، څو د کابل ښاريان له ستونزو څخه خلاص شي.

☜ **درېيم:** د ځينو هېوادوالو په اند د سيمې له هېوادونو سره د افغانستان اړيکې د هېواد د اقتصاد له پاره ګټورې دي. بلکل! په نننۍ نړۍ کې په يوازې ځان ژوند نه کېږي او هېوادونه اړ دي چې د ژوندي پاتې کېدو له پاره له نورو هېوادونو سره سياسي او اقتصادي اړيکې ټينګې کړي. افغانستان هم په نړۍ کې د يو هېواد په توګه له نورو هېوادونو سره اړيکو ټينګولو ته اړ دی. همدا لامل دی چې د اقتصاد محوره پاليسۍ پر بنسټ هڅې کېږي چې د نړۍ له ټولو هېوادونو سره اړيکې ټينګې شي، ځکه دا اړيکې د افغانستان د اقتصادي ودې او سوداګريزو اړيکو د ټينګښت او پراختيا له پاره مهمې دي.

## پایله

د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره پالیسۍ له مخې غواړي چې د نړۍ له ټولو هېوادونو سره اړیکې ټینګې کړي او د دې له پاره یې د تعامل لاره غوره کړې ده. وروستیو کې د نړۍ له ګڼو هېوادونو سره سیاسي او اقتصادي اړیکې ټینګې شوې دي. د ډېرو هېوادوالو له نظره په افغانستان کې ثبات د پانګونې لامل شوی دی. هېوادوالو ویلي چې په افغانستان کې د پانګونې ګڼ فرصتونه شته او له پانګوالو یې غوښتي چې په افغانستان کې د پانګونې له شته فرصتونو څخه استفاده وکړي.

# د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پاشدان بند ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



## سریزه

د افغانستان اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته د هېواد د اوبو د مدیریت او سالمې استفادې په موخه د ناتکمیل شویو پروژو چارې وارزولې او د چارو د بشپړېدو له پاره یې پلانونه جوړ کړل. د پاشدان بند هم له هغو پروژو څخه و چې چارې یې نیمګړې پاتې وې. اسلامي امارت په ۱۴۰۳ کال کې د یاد بند د جوړېدو چارې پېل کړې چې سږ کال پای ته ورسېدې.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د ۱۴۰۴ کال د اسد میاشتې په ۲۳مه نېټه د هرات ولایت په کرُخ ولسوالۍ کې د پاشدان بند ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، افغانان نن په داسې حال کې د خپلواکۍ څلورمه کلیزه لمانځي چې اسلامي امارت په تېرو څلورو کلونو کې د اسلامي شریعت د تطبیق او د سیاسي او اقتصادي برخو په ډګر کې ګټې لاسته راوړنې لري. د هغه په خبره، له همدې جملې یوه مهمه پروژه د پاشدان بند ده چې نن ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د پاشدان بند پروژه د هرات ولایت له پاره مهمه او حیاتي وبلله او ویې ویل، په دې سره به په دغه ولایت کې د وچکالۍ اغېزې راکمې او

د بزګرانو ستونزې به حل شي. محترم ملا صاحب زیاته کړه: «تېر کال مې د دې پروژې د پاتې چارو د پېل پر مهال ژمنه درسره کړې وه، چې اسلامي امارت به د پاشدان بند پاتې چارې په ټول توان بشپړوي. له نېکه مرغه، دا دی د پاشدان بند پاتې چارې نن بشپړې سوې.» محترم ملا صاحب وویل، په تېر کې د اشغالونو له امله د هېواد اقتصاد وده نه ده کړې او د نورو هېوادونو پر مشروطو مرستو ولاړ و. خو اسلامي امارت هوډ کړی چې د هېواد اقتصادي وضعیت په رښتینې معنی پیاوړی او د نورو له احتیاج څخه خلاص کړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو له پاره د ملي او سیمه‌ییزو پروژو ملاتړ کوي. په هرات ولایت کې د تاپي پروژې د کارونو جریان ثابتوي چې اسلامي امارت په سیمه کې اقتصادي همغږي، متقابله همکاري او ثبات غواړي. د هغه په خبره، اسلامي امارت د افغانستان او سیمې د اقتصادي ثبات لپاره اقتصاد محوره پالیسي تعقیبوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل: «اسلامي امارت غواړي له خپلو ټولو طبیعي سرچینو څخه سالمه استفاده وکړي او د چا د حق اخیستلو هوډ نه لري. موږ غواړو چې هم خپلې اوبه په سالم ډول مدیریت کړو او هم د نورو ثابت حقوق ورکړو. د اوبو له مدیریت  څخه مو موخه د خپل هېواد د اقتصاد پیاوړي کول دي. په هېواد کې د بې وزلۍ، بې کارۍ او مهاجرت کچې راټیټولو لپاره د اوبو مدیریت له اساسي کارونو څخه ګڼو.» د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال پر ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو غږ وکړ چې د اوبو او کرنې سکټور تر څنګ په نورو سکټورونو کې هم پانګونه ترسره او له دې فرصت څخه استفاده وکړي. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ټولو هېوادوالو ته د دې سترې پروژې د بشپړېدو مبارکي وویله او د اسلامي امارت له مسوولینو، د پاشدان بند له انجینرانو، تخنیکي ټیمونو، کارګرانو او ټولو هغه کسانو څخه یې مننه وکړه، چې د دې بند په بشپړولو کې یې همکاري کړې ده.


د یادونې وړ ده چې پاشدان بند د ۵۴ میلیون متر مکعب اوبو د ذخیره کولو، د ۱۳ زره هکتاره ځمکې د خړوبولو او دوه میګاواټه برېښنا د تولید وړتیا لري، چې زرګونو هېوادوالو ته به د کار زمینه برابره کړي.

## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پاشدان بند ګټې اخیستنې ته د سپارلو موخه:

د اقتصاد پیاوړتیا او اوبو سالم مدیریت

**په هغو رسنيو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پاشدان بند ګټې اخيستنې ته د سپارلو» خبر يې خپور کړی دی:**


## الف: امارتي رسنۍ




## ب: خصوصي رسنۍ




## د دولتي او خصوصي رسنيو د ارزونې د سلنې مجموعه:





## يادونه:

ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پاشدان بند ګټې اخيستنې ته د سپارلو خبر يې په ويډيويي، غږيزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د هیوادوالو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ


### تلویزیونونه





### راډیوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه





### ویبپاڼې




### ټویټرپاڼې




## په امارتي رسنيو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه





## ب: خصوصي رسنۍ


### تلويزيونونه





### راډيوګانې





### ورځپاڼې





### اژانسونه




ويب پاڼې




خصوصي رسنيو کې د هېوادوالو
د نظرونو د ارزونې ټولګه




امارتي او خصوصي رسنيو کې د
هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه



## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: امارتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پاشدان بند گټې اخیستنې ته د سپارلو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په گډون په امارتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۹۱۹ دی. د دې نظرونو له جملې ۸۵۲ مثبت دي. ۴۷ منفي نظرونه او ۲۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۳٪، منفي نظرونه ۵٪ او سالم وړاندیزونه ۲٪ دي.

۲. د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پاشدان بند گټې اخیستنې ته د سپارلو خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوگانو، ورځپاڼو، ویبپاڼو او اژانسونو په گډون په خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۳۰۲۲ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۲۸۱ مثبت، ۵٦۷ منفي او ۱۷۴ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي دي. مثبت نظرونه ۷۵٪، منفي نظرونه ۱۹٪ او سالم وړاندیزونه ٦٪ دي.

پورتنیو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنیو په پرتله په امارتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنیو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۳ ده، خو په خصوصي رسنیو کې دا سلنه ۷۵ ده. مگر په خصوصي رسنیو کې بیا د منفي نظرونو او وړاندیزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنیو کې په ترتیب سره ۱۹ او ٦، خو په امارتي رسنیو کې بیا ۵ او ۲ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنیو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړاندیزونه جمع کړو، په ټوله کې ۳۱۳۳ مثبت نظرونه، ٦۱۴ منفي نظرونه او ۱۹۴ سالم وړاندیزونه دي چې له مخې یې ۷۹٪ مثبت نظرونه، ۱٦٪ منفي نظرونه او ۵٪ سالم وړاندیزونه دي.

## په رسنیو او ټولنیزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډیز په لاندې ډول دی:

د یادونې وړ ده، دلته موږ یوازې د بېلگې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړاندیزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړاندیزونو یادونه د لیکنې له حوصلې وتلې ده.

- د پاشدان بند د هرات له پاره یو ستر پرمختیایي گام دی. د اوبو مهارول نه یوازې د بزگرۍ او اقتصادي پرمختگ له پاره مهم دي، بلکې د بې وزلۍ کمولو او خلکو ژوند ښه کولو کې هم مهم رول لري.

- ان شاءالله چې د نورو بندونو د پرانیستې شاهدان به یوو.

- اسلامي امارت دې د ملت د سرمايې يعنې اوبو د مهار له پاره نورې هڅې وکړي.
- د افغانستان اوبه نورو هېوادونو ته وړيا بهېږي، حکومت يې بايد مخه ونيسي او د هېواد د پرمختګ له پاره دې ترې استفاده وکړي.
- ټول افغانان د اباد‌ۍ تږي دي. ابادي دې لا زياته شي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** ډېرى هېوادوالو په خپلو تبصرو کې د پاشدان بند پرانيسته يو مثبت ګام بللى او ويلي يې دي چې د اوبو مهارول د بزګرۍ، اقتصادي پرمختګ او بې وزلۍ کمولو له پاره مهم دي او نور بندونه دې هم جوړ شي. ربښتيا خبره دا ده چې اوبه د انسان د ژوند له پاره حياتي ارزښت لري. که اوبه نه وي، نو ژوند نه شته. کرنه هم ټوله په اوبو ولاړه ده. د افغانستان په څېر کرنيز هېواد ډېرو اوبو ته اړتيا لري. افغانستان ډېرې شاړې ځمکې او دښتې لري، چې د اوبو له مهارولو پرته يې ابادول ممکن نه دي. په همدې اساس د افغانستان اسلامي امارت غواړي چې د هېواد اوبه د هېواد د کرنې د ودې، اقتصادي پرمختګ او بې وزلۍ کمولو له پاره مهار کړي. کرنه د يو هېواد په اقتصادي پرمختګ کې اساسي رول لوبوي او د افغانستان اقتصاد چې تر ډېره په کرنه ولاړ دى، نو د اوبو مهارول ډېر مهم دي. اسلامي امارت د هېواد له اوبو څخه د سالمې ګټې اخيستنې په موخه پلانونه جوړ کړي دي چې په عملي کولو سره يې يوازې د هېواد کرنيز او اقتصادي پرمختګ غواړي.

☜ **دويم:** ځينو هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې له اسلامي امارت څخه غوښتي چې د هېواد د اوبو د مهار له پاره دې نورې هڅې وشي او نورو هېوادونو ته دې د وړيا بهېدو مخه ونيسي. د اشغال پر مهال د هېواد د اوبو د مهارولو له پاره کافي هڅې ونه شوې. اسلامي امارت واک ته له رسېدو وروسته د ټولو پروژو سروې وکړه او هغه پروژې مشخص شوې چې کارونه يې نيمګړي پاتې وو. اسلامي امارت يې د پاتې چارو د بشپړېدو له پاره پلانونه جوړ کړل او د ځينو پروژو چارې يې پيل کړې. د شاه او عروس او پاشدان بندونو په ګډون د يوشمېر بندونو چارې بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شول. اوسمهال د هېواد په ځينو ولايتونو کې د يوشمېر بندونو چارې روانې دي او ځينې نور په پلان کې نيول شوي دي.

☜ **درېيم:** ځينو تبصره کوونکو ليکلي چې ټول افغانان د ابادۍ تږي دي. هغوی د نورې ابادۍ غوښتنه کړې. د اسلامي امارت له راتګ سره سم اشغال او جګړې پای ته ورسېدې او په هېواد کې سرتاسري امنيت راغی. هېوادوالو ته د هېواد د هر اړخيز پرمختګ هيله مندي پيداشوه او اسلامي امارت ته د هېواد د ابادۍ فرصت په لاس ورغی. د ټولو هېوادوالو

هیله ده چې اسلامي امارت هېواد اباد او سوکاله کړي. اسلامي امارت د هېوادوالو دغه هیله پوره کوي او هڅې روانې دي چې هېواد په اقتصادي او نورو اړخونو کې له نړۍ سره سیال کړي. د اقتصادي پراختیا په موخه په هېواد کې د ابادۍ کارونه په چټکۍ سره روان دي او موږ او تاسو ګورو چې ورځ تر بلې مو له نړۍ سره په بېلا بېلو سکټورونو کې اړیکې پراختیا مومي.

## پایله

اسلامي امارت د هېواد له اوبو څخه سالمې استفادې ته ژمن دی. په همدې موخه یې په مختلفو ولایتونو کې د اوبو د مهارولو له پاره پروژې پېل کړې دي. د شاه او عروس بند، عمري بند او پاشدان بند ګټې اخیستنې ته سپارل شوي او د نورو بندونو او کانالونو چارې روانې دي.

هېوادوالو په خپلو څرګندونو کې د اسلامي امارت له لوري د پاشدان بند د چارو بشپړېدل د هېواد د ابادۍ په برخه کې یو مهم ګام بللی او د نورو ورته ګامونو اخیستلو غوښتنه یې کړې ده، چې اسلامي امارت به د هېوادوالو غوښتنې پوره او د هېواد اوبه به د اقتصادي ښېرازۍ په موخه مهار کړي.

# ملي تدارکاتو کمېسیون د ۸۲۸ میلیون افغانیو په لګښت شپږ پروژې منظورې کړې



## سریزه


افغانستان جګړو ډېر ځپلی دی. اشغالونو په هېواد کې د ابادۍ د لویو پروژو مخه نیولې وه. اوس له جګړو خلاص افغانستان کې د بیارغونې او ابادۍ ښه فرصت دی. د افغانستان اسلامي امارت له دې فرصته په استفادې په هېواد کې مختلفې پروژې پېل او تمویلوي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د ۱۴۰۴ کال د سرطان میاشتې په ۳۱مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. د ملي تدارکاتو کمېسیون دې غونډې ته له اجنډا سره سم ۲۸ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته ۱۹ پروژې تعدیل، د ۸۲۸ میلیون افغانیو په ارزښت شپږ پروژې منظورې او د یوې پروژې قرارداد فسخه شو. همدارنګه د یوې پروژې په اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه څو یې بیاځلې تدارکاتي پروسه و ارزوي. د یوې بلې پروژې په اړه جلا ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو له ګټونکي شرکت سره د پروژې د قېمت په اړه مذاکره ترسره او راپور یې د ملي تدارکاتو کمېسیون مشرتابه ته وړاندې کړي. په تعدیل شویو او منظور شویو پروژو کې د کابل ښار د یوشمېر داخلي سړکونو جوړول او په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسونې او توزیع پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي. منظور شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له لوري تمویلېږي.

## ملي تدارکاتو کمېسیون د ۸۲۸ میلیون افغانیو په لګښت د شپږو پروژو د منظورۍ موخه:

بیارغونه او ابادي

**په هغو رسنیو کې د خلکو د نظرونو ارزونه چې «ملي تدارکاتو کمېسیون د ۸۲۸ میلیون افغانیو په لګښت د شپږو پروژو د منظورۍ» خبر یې خپور کړی دی:**


### الف: امارتي رسنۍ




### ب: خصوصي رسنۍ




### د دولتي او خصوصي رسنیو د ارزونې د سلنې مجموعه:





### یادونه:

په دغه ګراف کې په هغو امارتي او خصوصي رسنیو کې د خلکو د نظرونو سلنه ښودل کېږي چې د ملي تدارکاتو کمېسیون د ۸۲۸ میلیون افغانیو په لګښت د شپږو پروژو د منظورۍ خبر یې په ویډیويي، غږیزه او چاپي بڼه خپور کړی دی.


# په امارتي او خصوصي رسنیو کې د یاد خبر په اړه د هېوادوالو د نظرونو ارزونه

## الف: امارتي رسنۍ

### تلویزیونونه





### راډیوګاني





### ورځپاڼې





### اژانسونه





### ویاندویان




### ټویټرپاڼې




## په امارتي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




### ب: خصوصي رسنۍ


#### تلویزیونونه





#### راډیوګانې





#### ورځپاڼې





#### اژانسونه




### ویب پاڼې




### خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




### اماړتي او خصوصي رسنیو کې د هېوادوالو د نظرونو د ارزونې ټولګه




## د یاد خبر په اړه په رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه:

رسنۍ په دوه برخو وېشلې دي: اماړتي رسنۍ او خصوصي رسنۍ:

۱ . ملي تدارکاتو کمېسیون د ۸۲۸ میلیون افغانیو په لګښت د شپږو پروژو د منظورۍ خبر په اړه د تلویزیونونو، راډیوګانو، ورځپاڼو، وېبپاڼو، اژانسونو، ویاندویانو او ایکس پاڼو په ګډون په اماړتي رسنیو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په اماړتي رسنیو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړاندیزونو شمېر په ټولیز ډول ۵۳۴ دی. د دې نظرونو له جملې ۵۰۲ مثبت دي. ۲۲ منفي نظرونه او ۱۰ سالم وړاندیزونه دي چې په جدول کې ترتیب شوي. مثبت نظرونه ۹۴٪، منفي نظرونه ۴٪ او سالم وړاندیزونه ۲٪ دي.

۲. ملي تدارکاتو کمېسيون د ۸۲۸ میلیون افغانیو په لګښت د شپږو پروژو د منظورۍ خبر په اړه د تلويزيونونو، راډيوګانو، ورځپاڼو، ويبپاڼو او اژانسونو په ګډون په خصوصي رسنيو کې د خلکو د نظرونو څېړنه او ارزونه ده. په خصوصي رسنيو کې د خلکو د مثبتو او منفي نظرونو او وړانديزونو شمېر په ټوليز ډول ۲۳۳ دی. د دې نظرونو له جملې ۲۰۳ مثبت، ۱۹ منفي او ۱۱ سالم وړانديزونه دي چې په جدول کې ترتيب شوي دي. مثبت نظرونه ۸۷٪، منفي نظرونه ۸٪ او سالم وړانديزونه ۵٪ دي.

پورتنيو شمېرو ته په پاملرنې د خصوصي رسنيو په پرتله په امارتي رسنيو کې د خلکو د مثبتو نظرونو سلنه لوړه ده. په امارتي رسنيو کې د مثبتو نظرونو سلنه ۹۴ ده، خو په خصوصي رسنيو کې دا سلنه ۸۷ ده. مګر په خصوصي رسنيو کې بيا د منفي نظرونو او وړانديزونو سلنه لوړه ده. په خصوصي رسنيو کې په ترتيب سره ۸ او ۵، خو په امارتي رسنيو کې بيا ۴ او ۲ سلنه ده. که په امارتي او خصوصي رسنيو کې مثبت او منفي نظرونه او سالم وړانديزونه جمع کړو، په ټوله کې ۷۰۵ مثبت نظرونه، ۴۱ منفي نظرونه او ۲۱ سالم وړانديزونه دي چې له مخې يې ۹۲٪ مثبت نظرونه، ۵٪ منفي نظرونه او ۳٪ سالم وړانديزونه دي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو لنډيز په لاندې ډول دی:

د يادونې وړ ده، دلته مورږ يوازې د بېلګې په ډول مثبت او منفي نظرونه او وړانديزونه رااخلو، ځکه د ټولو نظرونو او وړانديزونو يادونه د ليکنې له حوصلې وتلې ده.

- لومړی دې د برق د بندونو کار شروع شی. دا يو اساسي اړتيا ده.
- تر هغې چې دلته د برق په برخه کې پرېمانه پانګونه ونه شي، نو هم به کارخانې سقوط وکړي او هم به انسانان.
- د کابل د اوبو غم وخورئ، مخکې له دې چې خلک نورو ولايتونو ته کډې وکړي.
- د کابل د اوبو ستونزې ته مو توجه غواړم.
- د ټول هېواد متوازن پرمختګ ته دې توجه وشي.

## په رسنيو او ټولنيزو شبکو کې د خلکو د نظرونو په څېړنې او لوستلو سره په عمومي ډول څو مهمې مسلې د پام وړ دي:

☜ **لومړی:** ځينو هېوادوالو په خپلو خبرو کې برېښنا اساسي اړتيا بللې او اندېښنه يې څرګنده کړې چې په برېښنا دې پانګونه وشي، ګنې کارخانې به سقوط شي. په افغانستان کې د برېښنا کمښت نوې ستونزه نه ده، بلکې له پخوا

راهيسې راپاتې ده. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې دغه ستونزه حل کړي. د دې له پاره يې د کورنۍ ترځنګ بهرنۍ پانګونه جذب کړې ده او له دې لارې هڅه کېږي چې په هېواد کې د برېښنا ستونزه راکمه او اقتصادي څرخ ونه درېږي. په دې وروستيو کې په مختلفو ولايتونو کې د برېښنا د توليد پروژې پيل شوې. افغانستان له لمر، اوبو او باد څخه د برېښنا د توليد ډېر ظرفيت لري، چې تر اوسه ترې استفاده نه ده شوې. اسلامي امارت غواړي چې د افغانستان له دې ظرفيت څخه استفاده وشي او د هېواد د برېښنا ستونزه حل شي. په دې اساس، دا کارونه لړ وخت او زغم ته اړتيا لري. د برېښنا د اوسني وضعيت بدلون ته لږ انتظار په کار دی.

☜ **دويم:** يوشمېر هېوادوالو په خپلو نظرونو کې ويلي چې د کابل د اوبو غم دې وخوړل شي. هغوی په کابل کې د اوبو کمښت ته په اشارې ويلي چې ممکن خلک نورو ولايتونو ته کډه وکړي. په کابل ښار کې تر ځمکې لاندې اوبو ستونزه شته او د اوبو کچه ډېره ښکته شوې ده، چې دې کار د هېوادوالو اندېښنې راپارولې دي. اسلامي امارت دغې ستونزې ته متوجه دی او له ټولو ممکنه لارو څخه هڅه کوي چې د دې بحران مخه ونيسي. د دې له پاره غواړي چې د پنجشېر سيند اوبه کابل ته انتقال کړي. په دې اړه يې له ټولو کورنيو او بهرنيو پانګوالو غوښتي که په دې پروژه کې د پانګونې لېوالتيا لري، نو اسلامي امارت به ورته زمينه برابره کړي او همکاري به ورسره وکړي. د پنجشېر سيند اوبو انتقال سره به د کابل ډېرو ښاريانو ته اوبه ورسېږي، چې له امله به يې د ښار تر ځمکې لاندې اوبه سپما شي او د لوی بحران مخه به ونيول شي.

☜ **درېيم:** ځينو هېوادوالو په خپلو خبرو کې د ټول هېواد د متوازن پرمختګ خبره کړې او غوښتنه يې کړې چې د ټول هېواد پرمختګ ته دې توجه وشي. د دوی د خبرو په ځواب کې به ووايو چې اسلامي امارت د ټول افغانستان په متوازن انکشاف باور لري، نه د يوې خاصې سيمې. اسلامي امارت ټول افغانستان خپل ګڼي. موږ او تاسو وينو چې د هېواد په مختلفو ولايتونو کې د ابادۍ او بيارغونې پروژې روانې دي. سړکونه، فابريکې، د برېښنا د توليد پروژې، اوسپنې پټلۍ پروژې، کانالونو او د ابادۍ او بيارغونې نورې سلګونه پروژې دي چې کارونه يې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې روان دي. دا د دې څرګند ثبوت دی چې اسلامي امارت د ټول هېواد پرمختګ غواړي، ځکه ټول افغانستان اشغال او جګړو ځپلی دی.

## پایله

د افغانستان اسلامي امارت ټول ارګانونه د هېواد د ابادۍ په چارو کې بوخت دي. د زده کړو، برېښنا، صنعت، اوسپنې پټلۍ، کرنې، روغتیا او نورو ټولو سکټورونو کې په زیاترو ولایتونو کې انکشافي پروژې روانې دي.

اسلامي امارت په هېواد کې د برېښنا د کمښت او د کابل تر څمکې لاندې اوبو ستونزې جدي نیولې دي او د حل له پاره يې هڅې کوي. په دې تړاو هڅې روانې دی چې د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې پرمټ د برېښنا ډېرې پروژې پلې شي او هم کابل ته د پنجشیر سیند اوبو انتقال له پاره ملاتړی وومي.

Deputy PM for Economic Affairs Office

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت